# امام علی علیه السلام
# د قرآن له نظره

ژباړه: سرفراز علی مهدی

Download from: www.aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د الله په نامه (شورو کوم) چې ډېر بخښونکی مهربان دی

Download from: www.aghalibrary.com

قَالَ اللهُ تَعَالی:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا﴾

سوره الأحزاب: ٣٣

پاک الله فرمايي:

"بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو عليهم السلام له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."

Download from: www.aghalibrary.com

# امام علي عليه السلام د قرآن له نظره

Download from: www.aghalibrary.com

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمایل:

زهٔ تاسو ته دوه درانه او ارزښتناک څیزونه پرېږدم: یو د خدای کتاب (قران) او بل زما اهلبیت، که چیرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هیڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه به یو له بله جدا کیږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسیږي.

(صحیح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک ، ۱۴، ۱۷، ۲۲او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک ، ۱۸۲ مخ، مستدرک حـاکم، ۳ ټوک ، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

Download from: www.aghalibrary.com

# امام علي عليه السلام د قرآن له نظره

لیکوال:
علامه سید مرتضیٰ عسکري

مترجم :
سرفراز علي مهدي

د اهل بیتو نړیواله ټولنه

Download from: www.aghalibrary.com

نام كتاب:

نويسنده: سيد مرتضىٰ عسكري

تهيه كننده: مجمع جهانی اهل بيتعليهم السلام -اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د كتاب نوم :**

امام علی(ع) د قرآن له نظره

ليكوال: علامه سيد مرتضىٰ عسكري

تياروونكې: د اهل بيتو د نړيوالې ټولنې د ژباړې څانګه

ژباړه او كمپوز: سرفراز علي ايم اے عربي

تصحيح : انور شاهين خانخېل

وروستی كتنه: ډاكټر عبدالرحيم درانی

صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نېټه : 1437هـ ق (بمطابق 2016م)

دچاپ وار: ورومبے

شمېر :۲۰۰۰

چاپ خانه: اسراء

خپروونكې: د اهلبېتو نړيواله ټولنه

ISBN: 978-964-529-0

www.ahl-ul-bayt.org

Download from: www.aghalibrary.com

info@ahl-ul-bayt

Download from: www.aghalibrary.com

# لړلیک

حضرت امام علي عليه السلام د قرآن له نظره ➢ ١١
١- د حضرت امام علي عليه السلام په حقله آیتونه ➢ ١٥
الف- د انفاق آیت ➢ ١٥
ب- د ځان د خرڅولو آیت ➢ ١٦
٢- د اهلبیتو عليهم السلام په باره کښې آیتونه ➢ ١٩
الف- سورهٔ هل أتیٰ ➢ ١٩
ب- د ایثار ایت ➢ ٢٣
ج- د مباهلې آیت ➢ ٢٤
د- د فائزون آیت ➢ ٢٨
ه- د تطهیر آیت ➢ ٢٩
و- د مرج البحرین یلتقیان آیتونه ➢ ٣٢
ز- د اولاد د ملحق کولو آیت ➢ ٣٤
ح- د مودّت آیت ➢ ٣٥
٣- امام علي عليه السلام او د هغه د شیعهٔ (پیروکارو) په حقله نازل شوي ایتونه ➢ ٣٧
الف- د خیرالبریه آیت ➢ ٣٧
ب- د مفلحون آیت ➢ ٣٨

Download from: www.aghalibrary.com

٤- د امام علي عليه السلام او نورو په حقله ايتونه ≺ ٤١
٥- دامام علي عليه السلام د دښمنانو په حقله آيتونه ≺ ٤٩
٦- د امام علي عليه السلام د محبت او ولايت په حقله ايتونه ≺ ٥٩
٧- په اسلام کښې د علي عليه السلام ورومبيتوب ≺ ٦٥
٨- له پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله سره، د حضرت علي عليه السلام د ملګرتيا او مرستې په حقله ايتونه ≺ ٧٧
٩- د ولايت په حقله ايتونه ≺ ٨٧
١٠- د امام علي عليهم السلام دجهاد په حقله ايتونه ≺ ١٠٩
١١- د امام علي عليهم السلام د علم په حقله ايتونه ≺ ١١٩
١٢- په قيامت کښې د امام علي عليهم السلام د مقام په حقله ايتونه ≺ ١٢٥

Download from: www.aghalibrary.com

## حضرت امام علي عليه السلام
## د قرآن له نظره

د قران شریف او د امام علي عليه السلام تر مینځ د تعلق رابطي لټوونکي محقق کله د حضرت امام علي عليه السلام په لاس د قران شریف د لیکلو او همدارنګ د قران راغونډولو ته نظر کوي او کله هم د قران پاک د ایتونو د نزول او تاویل په حقله د امام علي عليه السلام د تفسیر په باره کښې بحث کوي چې هغهٔ حضرت پخپله هم فرمایلي دي چې:

«سَلُوني عَن كِتابَ الله فَوَاللّهِ ما مِنْ آيَةٍ الاّ أنا أعْلَم أبلَيلٍ نَزلت أم بنَهار، أم في سَهل أم في جَبل»؛[1]

---

۱. متقی هندي، علي، کنزالعمال، ټوک ۲، مخ ۲۵۷-۲۵۸.

Download from: www.aghalibrary.com

«د خدای پاک د کتاب په حقله له ما وپوښتئ ځکه چې قسم په خدای چې زهٔ له ټولو ایتونو خبر یم چې هغه د ورځې نازل شوي دي یا دشپې، په صحرا کښې نازل شوي دي یا په غرهٔ کښې.»

کله کله هم محقق، په قران پاک باندې د علي‌علیه‌السلام د عمل کولو موضوع د عقیدې او کردار له اړخه څیړي چې پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله وفرمایل:

**«عَلیٌّ مَعَ القُرآن و القُرآنُ مَعَ عَلیّ لَنْ یَفترقا حتّی یَرِدا عَلیّ‌الحَوض»؛**[1]

«علي له قرآن سره دے او قرآن له علي سره دے او هیڅکله به له یو بله جدا نهٔ شي مګر دا چې په حوض کوثر ماته راورسیږي.»

په موجوده بحث کښې د خدای د ګران رسول‌صلی‌الله‌علیه‌وآله دحدیثونو په رڼا کښې د حضرت امام علي‌علیه‌السلام په شان کښې

۱. حاکم نیشابوري، المستدرك علی الصحیحین، ټوک ۳، مخ ۱۲۴.

Download from: www.aghalibrary.com

نازل شویو ځینو هغو ایتونو ته اشاره کوو چې مو تر لاسه کړې دي؛ ځکه چې ستر سني عالم خطیب بغدادي په خپل کتاب تاریخ بغدادي کښې له ابن عباس نه روایت کړے دے چې «د قران پاک درې سوه ایتونه د حضرت علي‌علیه السلام په شان کښې نازل شوي دي.»[۱] همدا رنګ مشهور سني عالم شبلنجي حنفي له ابن عباس‌نه نقلوي چې

«د خداے پاک په کتاب قران شریف کښې چې څومره ایتونه د حضرت علي‌علیه السلام په حقله نازل شوي دي د بل هیچا په حق کښې دومره زیات نهٔ دي نازل شوي.»[۲]

په دې کتاب کښې مونږ، هغه ایتونه چې د امام علي سره تعلق لري په دولسو برخو کښې ویشلي دي او په هرې برخې کښې مو هغو ایتونو ته اشاره کړې ده چې د هغه د نزول وخت او یا داسې تاریخي پېښه مو بیان کړې ده چې هغه د دې ایتونو ارتباط له امام علي‌علیه السلام سره تاییدوي.

---

۱. خطیب بغدادی، تاریخ بغداد، ټوک ۶، مخ ۲۲۱.
۲. شبلنجی حنفی، نورالابصار، مخ ۷۳.

Download from: www.aghalibrary.com

په دې بحث کښې زمونږ سرچینې د اهلبیتو علیهم السلام د مکتب او د خلفاو د مکتب (سنیانو) د تفسیر او حدیثونو اهم کتابونه دي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۱- د حضرت امام علي‌عليه‌السلام په حقله آیتونه

### الف- د انفاق آیت

﴿ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ فَلَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴾؛[۱]

"هغه کسان چې شپه او ورځ، پټ او ښکاره خپل مالونه خیراتوي نو د هغوي اجر د هغوي له پروردګار سره دے نه هغوي ته څه ویره شته او نۀ به غمجنیږي."

عبدالوهاب بن مجاهد له ابن عباس‌نه داسې روایت نقلوي چې: «د انفاق ایت د حضرت علي‌عليه‌السلام په شان کښې نازل

۱. سوره بقره: ۲۷۴.

Download from: www.aghalibrary.com

شوے دے؛ له هغه بزرګوار سره څلور درهم وو چې يو يې د شپې خېرات کړ او بل يې د ورځې، يو يې په ښکاره خېرات کړ او بل يې له خلقو پټ.»[۱]

## ب- د ځان د خرڅولو آيت

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِى نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ﴾؛[۲]

"او په خلقو کښې داسې هم شته چې خپل ځان د خدا ے د رضا لپاره خرچ کوي او خدا ے په بندګانو مهربان دے."

عبدالرحمان بن ميمون د ابن عباس‌په نقل سره داسې وائي:

«په کومه شپه (د هجرت په شپه) چې رسول الله‌صلی‌الله‌علیه‌وآله غار طرف ته ووتۀ نو علي‌علیه‌السلام يې په خپلې بسترې څملوۀ. ابوبکر په پېغمبرصلی‌الله‌علیه‌وآله پسې راغے نو علي‌علیه‌السلام ورته ووېل

۱. ابن عساکر، تاريخ مدينة دمشق، ټوک ۳۸، مخ ۲۰۶.
۲. سوره بقره: ۲۰۷.

Download from: www.aghalibrary.com

چې هغه بهر وتلے دے نو ابوبکر په پېغمبر‌صلى الله عليه وآله پسې روان شو او قرېشو (چې د پېغمبراکرم‌صلى الله عليه وآله د قتلولو لپاره راغلي وو) دا سوچ کوۀ چې د پېغمبر‌صلى الله عليه وآله په بسترې کښې پخپله پيغمبر‌صلى الله عليه وآله موجود دے نو کله چې سحر شو نو په حېرانتيا سره يې وليدل چې د پېغمبراکرم‌صلى الله عليه وآله په بسترې کښې علي‌عليه السلام موجود دے او پېغمبر‌صلى الله عليه وآله نيشته وې ويل: محمد‌صلى الله عليه وآله چرته دے، علي‌عليه السلام ورته وويل: چې ما ته پته نيشته، قرېشو وويل چې: مونږ خو تا ته زيان رسول نۀ غوښتل، زمونږ هدف او مقصد خو محمد‌صلى الله عليه وآله ؤ. نو بيا دا ايت و من الناس من يشرى نفسه ... د هغۀ بزرګوار په باره کښې نازل شو.»

امام علي‌عليه السلام په خپله په دې حقله دا سې شعرونه ويلي دي:

وقيت بنفسى خير من وطى الحصى

واكرم خلق طاف بالبيت والحجر

وبِتُّ أُراعى منهم ما ينوبنى

و قد صرت نفسى على القتل والاسر

Download from: www.aghalibrary.com

محمد لما خاف ان یمکروا به

فنجاه ذوالطول العظیم من المکر

و بات رسول الله فی الغار آمنا

فما زال فی حفظ الاله و فی ستر[۱]

«ما له خپل ځان سره، غوره لاربنود/ او قدرمن او شریف مخلوق، د خدا ے د کور او د حجر اسود زوار محفوظ وساتل./ د پیغمبرصلی‌الله‌علیه‌وآله په بسترې کښې اودهٔ شوم په داسې حال کښې چې د دښمنانو پروا مې نهٔ کوله / ځان مې قتل او بندي کېدو ته تیار کړے ؤ./ کله چې حضرت محمدصلی‌الله‌علیه‌وآله د هغوي له مکر(سازشونو) اندېښمن شو / نو لوے بخښونکي خدا ے هغه د دښمنانو له مکر(سازشه) وژغورهٔ. / هو، رسول اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله په هغه غار کښې، ډاډمن ؤ/ او تل د خدا ے په پناه کښې باقې پاتے شو.»

۱. احمد بن حنبل، المسند، ټوک ۱، مخ ۳۳۰؛ حاکم نیشابوری، المستدرك علی‌الصحیحین، ټوک ۳، مخ ۱۲۳؛ نسائی، احمد بن شعیب، خصائص علی بن ابی‌طالب، مخ ۶۱.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۲- د اهلبیتو علیهم السلام په باره کښې آیتونه

### الف- سورهٔ هل أتیٰ

د دې سورت په شأن نزول کښې مجاهد له ابن عباس څخه داسې روایت نقلوي چې:

((حسن علیه السلام او حسین علیه السلام بیماران(ناروغه) شول. رسول الله صلی الله علیه و آله سره د ملګرو د هغوي پوښتنې ته راغلل او علي علیه السلام ته یې وویل: اے اباالحسن! کاش که زامنو لپاره دې نذر کړے وې! علي علیه السلام وفرمایل: که شفایاب او روغ شول نو د خدائے د شکرګزارۍ لپاره به درې ورځې روژه ونیسم. بي بي فاطمه زهرا علیها السلام او د هغوي خدمتګارې بي بي فضې هم همداسې وویل: حسن علیه السلام او حسین علیه السلام شفایاب او روغ جوړ شول نو د کور ټولو کسانو روژه ونیوه خو چونکه په دوي کور کښې توښه او خوراک نهٔ وو نو علي علیه السلام شمعون یهودي ته ورغے او درې صاعه (تقریباً درې کېلو) اوربشې

Download from: www.aghalibrary.com

يې ترې قرض واخېستې او کور ته يې راوړې. بي بي فاطمه زهرا عليها‌السلام يو صاع اوربشې اوړه کړې او (پينځه) روټۍ يې تيارې کړې. علي ‌عليه‌السلام ، د خدا ے ګران رسول صلى‌الله‌عليه‌وآله‌ سره نمونځ ادا کړ او کور ته راستون شو او ټول ډوډۍ ته کښېناستېدل. دغه وخت يو فقير د کور دروازه ووهله او وې ويل: اے د محمد اهلبېتو پر تاسو دې سلام وي، زۀ يو مسلمان فقير يم، ماته څۀ خواړۀ راکړئ انشاالله خدا ے به تاسو ته د جنت له دسترخوانه خواړۀ درکړي. علي ‌عليه‌السلام ووېل خواړۀ ورله ورکړئ او ټولې ډوډۍ ورته ورکړې او ټولو بې له اوبو څه بل څه ونۀ خوړل.

په دويمه ورځ بي بي فاطمه زهرا عليها‌السلام يو صاع اوربشې نورې هم اوړۀ کړې او ډوډۍ يې تيارې کړې، نو کله چې هغې بي بي طعام کېښود، نو يو يتيم دروازه ووهله او وې ويل: اے د محمد اهل بيتو پر تاسو دې سلام وي د مهاجرينو له اولاده يو يتيم يم چې پلار مو شهيد شوے دے په کور کښې د خوړو څه نۀ لروو. نو اهلبېتو عليهم‌السلام ټولې ډوډۍ هغۀ ته

Download from: www.aghalibrary.com

ورکړې او دویمه ورځ یې هم صبر او زغم وکړ او یوازې اوبۀ یې وڅښلې.

په دریمه ورځ بي بي پاتې اوربشې اوړۀ کړې او ډوډۍ یې ترې جوړې کړې. امام علي‌علیه السلام له پېغمبراکرم‌صلی الله علیه وآله سره د جَمعې نمونځ له ادا کولو وروسته کور ته راستون شو، نو کله چې بیا ټول ډوډۍ ته کښېناستېدل چې وخوري یو بل غریب کس راغې او دروازه یې ووهله وې ویل: اے د پېغمبراهل بیتو زۀ بندي یم څه خوارۀ نۀ لرم څه خوارۀ راکړئ، بیا یې ډوډۍ هغۀ ته ورکړې او په دریمه ورځ بیا هم ټولو صبر وکړ او بې له اوبو یې بل څه ونۀ خوړل. رسول الله‌صلی الله علیه وآله د هغوي کور ته ورغے نو چې د هغوي سخته لوږه یې ولیده نو خدا ے تعالیٰ لخوا دا ایتونه نازل شول:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ۝١... يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ

Download from: www.aghalibrary.com

مُسۡتَطِيرٗا ۝٧ وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ۝٨ إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ﴾؛[۱]

"آيا داسې نۀ ده چې په انسان داسې اوږدې زمانې تېرې شوې چې د يادونې وړ کوم څېز نۀ ؤ؟ (په حقيقت کښې) مونږ انسان له ګډې شوې نطفې نه پېدا کړ، چې هغه اوزمايو (؛نو ځکه) مونږ هغه اورېدونکے او ليدونکے وګرځوۀ. مونږ هغۀ ته (سمه) لار وښودله،که شکر کوونکی وي (او وي منې) يا ناشکره ( او وې نۀ منې). مونږ کافرانو لره د اور سوزونکې لمبې ځنځيرونه او زولنې چمتو کړې دي! نېکان به هغه جامونه څښي چې د کافورو (ښه عطر) به ورسره ګډ شوي وي، (هماغه) چينه چې د خدا ے [نېك] بندګان يې ترې څښي چې پخپله خوښه يې هرې خوا ته بيولې شي. هغوي (نېکان) خپل نذرونه پوره کوي او له هغې

۱. سوره انسان:۹- ۱.

ورځې وېرېږي، چې شر (او عذاب) به يې هر لوري ته خپور شوے وي، او (خپل) خوراک سره له دې، چې خپله يې خوښوي (او ورته ضرورت لري)، (د خدا ے په لار کښې) "مسکين" ، "يتيم" او "بندي" ته ورکوي. (او وائي:) مونږ تاسو ته يوازې د خدا ے لپاره خوراک درکوو (او) له تاسو هېڅ بدله او مننه نهٔ غواړو."[1]

## ب- د ايثار ايت

﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾؛[2]

"او نور خلق له خپلو ځانونو (غوره او) وړومبي ګڼي او که څه هم هغوي پخپله ډېر اړمن وي."

ابوهريره وائي:

((يو کس پېغمبر اکرمصلی الله علیه وآله ته راغے او د لوږې ګيله يې وکړه پېغمبر اکرمصلی الله علیه وآله هغه خپل کور ته وليږهٔ نو د هغه حضرت

۱. ابن اثير، اسد الغابه، ټوک ۵، مخ ۵۳۰.
۲. سوره حشر: ۹.

Download from: www.aghalibrary.com

مېرمنو وویل چې د اوبو نه بغېر بل څه نیشته پیغمبر اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله وفرمایل: په دې شپه دغه کس څوک مړولې شي؟ علي‌علیه‌السلام وویل: زهٔ یا رسول الله! بیا بي بي فاطمه‌علیهاالسلام ته ورغے او ټوله خبره یې ورته بیان کړه. هغې بي بي وویل چې د دې وړې لور د خوراک نه بغېر بل څه نیشته خو مېلمه ته په خپلو ځانونو ترجیح ورکوو، علي‌علیه‌السلام وویل: لور دې اوده کړه او زهٔ هم د مېلمه په خاطر څراغ(ډیوه) مړ کوم بي بي فاطمې‌علیهاالسلام همداسې وکړل، او امام علي‌علیه‌السلام په تیارهٔ کښې له مېلمه سره هسې په ډوډۍ کښې لاس وهۀ او دا ښودنه یې کوله چې ورسره ډوډۍ خوري هغه مېلمه د ماښام ډوډۍ وخوړه ، کله چې سحر شو نو خداے پاک دا آیت ﴿وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ...﴾ نازل کړ.[1]

## ج- د مباهلې آیت

﴿فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۲۴۶.

Download from: www.aghalibrary.com

وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴾؛[۱] نو "نوووایه: راشئ چې راوبولو مونږ خپل زامن او تاسو خپل زامن، مونږ خپلې زنانه او تاسو خپلې زنانه مونږ خپل نفسونه (چې زمونږ د ځان په ځاے دي) او تاسو خپل نفسونه، بیا به (خدا ته) دعا او زاري وکړو) او په دروغجنو به د خداے لعنت وکړو."

په الصواعق المحرقه کښې له جابر بن عبدالله څخه داسې نقل شوي چې:

د نجران د نصاراو (عیسائیانو) د استازیو یوه ډله د هغوي د مذهبي مشر په قیادت کښې په مسجد نبوي کښې د پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله خدمت ته راغله او پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله ورته د اسلام قبلولو دعوت ورکړ هغوي وویل چې مونږ له دې وړاندې اسلام راوړے دے پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله وفرمایل: دروغ وایئ، که غواړئ تاسو له هغه څه خبر کړم چې تاسو د

۱. سوره آل عمران: ۶۱.

Download from: www.aghalibrary.com

اسلام له قبلولو منعې کوي، هغوي وويل خبر مو کړه: وې فرمايل: صليب سره مينه او د شرابو څښل او د خنزير غوښه خوړل او دغه شان عيسیٰ د خدا ے به زويتوب منلو په باره کښې ورسره بحث او مناظره وکړه او هغوي يې پر کړل خو هغوي بيا هم اسلام قبول نهٔ کړ نو بيا يې هغوي مباهلې ته راوغوښتل او هغو ورسره وعده وکړه چې سبا سحر حاضر شئ، سحر، رسول اللهﷺ له علي؈، بي بي فاطمه؈ او حسن؈ او حسين؈ له ځان سره روان کړل او د مباهلې ځا ے ته لاړل خو چې کله د نصاراو (عيسيائيانو) مشر دغه نوراني څېرې وليدې نو له مباهلې يې ډډه وکړه او جزيې ورکولو ته راضي شول، پېغمبراکرمﷺ وفرمايل: قسم په هغه خدا ے چې زهٔ يې په حقه راليږلے يم، که عيسائيانو مباهله کړې وې نو دغه دشته او صحرا به په اور سوځېدلې وه بيا دا ايت نازل شو: ﴿ فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ...ثُمَّ نَبْتَهِلْ... ﴾.

Download from: www.aghalibrary.com

شعبی وائي: په دې ایت کښې له أبناءَنا څخه مراد، «حسن او حسینعلیهما السلام» دي او له نِساءَنا مراد «بي بي فاطمهعلیها السلام» او له أنفُسَنا څخه مراد «علي بن ابی‌طالب» دے.

ابن حجر وائي:

«دارقطني روایت نقلوي چې عليعلیه السلام د سقیفې له واقعې نه وروسته د سقیفې شورا او جرګې غړو سره استدلال وکړ او ورته یې وویل: تاسو ته د خدائے قسم درکوم ایا په تاسو کښې داسې څوک شته چې له ما زیات د خدائے ګران رسولصلی الله علیه وآله ته نزدې وي؟ هغه کس چې پېغمبر ورته خپل نفس ویلې دي او د هغۀ زامن یې خپل زامن بللي دي له ما نه بغېر بل څوک شته؟ وویل شول: هرګز، هرګز! بل څوک نیشته... .[1]»

حمزه بابا هم په خپل شعر کښې دغې واقعې ته اشاره کړې ده او وائي:

پېنځـو کــړل لا جــوابه د نجـران نصاریٰ
پېنځۀ وو چې تشهیر یې د اسلام کړے دے

۱. ابن حجر، الصواعق‌المحرقه، مخ ۹۳.

Download from: www.aghalibrary.com

## د- د فائزون آیت

﴿إِنِّي جَزَيْتُهُمُ ٱلْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمْ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ﴾؛[1]

"بې شکه چې نن ما هغوي ته د خپل صبر او زغم، جزا (بدله) ورکړه، بې شکه چې هم هغوي کامیاب دي."

له عبدالله بن مسعود څخه داسې نقل شوي دي چې وائي له دې ایت څخه مراد ﴿إِنِّي جَزَيْتُهُمُ ٱلْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ﴾، عَليّ بن أبی‌طالب، بي بي فاطمه‌ﷺ ، حسن‌ﷺ او حسین‌ﷺ دي چې دوي په دنیا کښې د خدا ے په اطاعت او فقیرۍ او لوږې صبر وکړ او له ګناهونو یې هم ځانونه وساتل او په سختیانو او مشکلاتو کښې یې زغم نه کار واخیست. هو، په ریښتیا چې هم هغوي کامیاب او له حساب کتابه نجات موندونکي دي.[2]

---

۱. سوره مؤمنون: ۱۱۱.

۲. حاکم حسکانی، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۴.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۵- د تطهير آيت

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرًا﴾؛[۱]

"بې شکه چې خداے يوازې دا غواړي چې له تاسو اے اهلبېتو[۲] (نبوي کورنۍ) پليتي لرې وساتي او تاسو په

---

۱. سوره احزاب: ۳۳.

۲. دلته له اهلبيتو عليهم السلام مراد د پيغمبرصلی الله علیه وآله خاص اهلبيت دي نه هر کس چې د هغه کور سره تړلې وي لکه څه رنګ چې د نوح په کيسه کښې د نوح د زوي په هکله فرمايي: انه ليس من اهلک، دا ستا له اهله نه دی، که څه هم د هغه زوې و خو بياهم د خپل عمل په سبب د هغه له اهل نه دی ګڼلی شوی، د اهل تشيع او اکثرو اهل سنتو په روايتونو کښې دا راغلي دي چې دلته له اهلبيتو مطلب علی، فاطمه، حسن او حسينعليهم السلام دي، او له "عنکم" چې جمع مذکر ضمير دی هم دا معلوميږي چې د پيغمبر(ص) مانديني يې مراد نه دي که څۀ هم وړاندې وروسته ايتونه د هغوي په هکله دي خو ضمير بدل شوی دی، اهل سنتو

Download from: www.aghalibrary.com

بشپړه توګه پاک او پاکیزه ولري، لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."

له بي بي اُم سلمه‌څخه داسې نقل شوي دي چې:

پېغمبراکرم‌صلی الله علیه وآله زما په کور کښې ؤ چې بي بي فاطمه‌علیها السلام سره د یو لوښي راننوته او پېغمبرصلی الله علیه وآله ته ورغله پېغمبرصلی الله علیه وآله ورته وویل: خپل خاوند او زامن هم راوغواړه، نو، علي، حسن او حسین‌علیهم السلام هم د پېغمبراکرم‌صلی الله علیه وآله حضور ته راغلل هغوي له هغه لوښي څه وخوړل، پېغمبراکرم‌صلی الله علیه وآله په خپلې بسترې او په خپل څادر ناست ؤ او ما په خپلې کوټې کښې نمونځ ادا کوۀ چې خداے پاک دا ایت ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ

---

په ډېرو تفسیرونو کښې له بي بي عایشې او ام سلمه او ابوسعید خذري او انس بن مالکه نقل شوي دي چې مراد یې، علی، فاطمه، حسن او حسین‌علیهم السلام دي. چې له هغو یو تفسیر تفسیر حسیني دی.

Download from: www.aghalibrary.com

تَطْهِيرًا﴾ نازل کړ نو پېغمبراکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله د څادر بل سر راواخېست او هغو يې هم پټ کړل او بيا يې خپل لاسونه راوباسل او اسمان ته يې اشاره وکړه او وې فرمايل: پروردګاره! دا زما اهلبيتعليهم‌السلام او زما خاص کسان دي، له دوي پليتۍ لرې وساتې او دوي پاک او پاکيزه ولرې، ام سلمه وائي ما خپل سر څادر ته وردننه کړ ومې ويل: يا رسول اللهصلی‌الله‌علیه‌وآله، زهٔ هم تاسو سره يم؟ وې فرمايل: ستا عاقبت په خېر دے.»[1]

«له انس بن مالك نقل شوي چې پېغمبراکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله تر شپږو مياشتو پورې کله هم چې د سحر نمانځهٔ ادا کولو لپاره د فاطمې بي بيعليها‌السلام د کور مخې ته تيرېدهٔ نو فرمايل به يې چې: اے اهلبېتو، د نمونځ وخت دے، بيا به يې دا مبارک

---

١. ابن حنبل، المسند، ټوک ۶، مخ ٣٩٣. مسلم هم په خپل کتاب صحيح مسلم کښې دا ذکر کړے دے.

Download from: www.aghalibrary.com

ایت تلاوت کوهٔ؛ ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾.»[1]

حمزه بابا په خپل شعر کښې وائي:

د تطهیر آیت که ولولې شې پوه به

گناه نهٔ پرېږدي په آل کښې د نبي‌صلی‌الله‌علیه‌وآله

## و- د مرج البحرين يلتقيان آيتونه

﴿مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ۝١٩ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ۝٢٠... يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ﴾؛[2]

"دوه (بېلابېل) نهرونه (تود او سوړ) یې [داسې] بیولي دي، چې سره یو ځاے کېږي، چې ترمینځ یې پرده ده چې یو هم

١. بلاذری، احمد بن يحيىٰ، انساب الاشراف، ټوک ١، مخ ٢١٥.
٢. سوره رحمن: ١٩ـ٢٢.

Download from: www.aghalibrary.com

ترې نۀ تېرېږي (او له يو بل سره نۀ ګډېږي)..... له هغو دواړو (نهرونو) مرغلرې او مرجان راووځي."

له ضحاك داسې نقل شوي دي چې وايي: له ﴿مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ﴾ څخه مراد، علی او فاطمه بي بي دي، له ﴿بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ﴾ څخه مراد پيغمبر اکرم دی او له ﴿يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ﴾، څخه مراد حسن او حسين دي.[1]

حمزه بابا د همدې مبارک آيت د تفسير په حقله په خپل شعر کښې داسې وائي:

علـيٌّ اوفاطـمهٌ څـه دي قـرآن وګوره
بيـا مَـرَجَ البَحـرَيۡنِ يَلۡتَقِيـان وګوره
زامن يې دوه لعلونه دي حسنٌ او حسينٌ
يَخۡرُجُ مِنۡهُمـا اللُّؤۡلُؤُ و الۡمَرجان وګوره

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۲۰۸.

Download from: www.aghalibrary.com

## ز- د اولاد د ملحق کولو آیت

﴿وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ﴾؛[۱]

"او کومو کسانو چې ایمان راوړے او اولاد یې هم د "ایمان" لار ورپسې نیولې ده؛ نو (په جنت کښې) به اولاد ورسره یو ځاے کوو او د عمل (له بدلې) به یې هیڅ څیز نۀ کموو، د هر چا تړاو له خپلو عملونو سره دے."

له ابن عباس نه نقل شوي دي چې: دا آیت ﴿وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ...﴾ پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله او علي، فاطمه ،حسن او حسین علیهم السلام په شان کښې نازل شوي دے.

۱. سوره طور: ۲۱.

Download from: www.aghalibrary.com

## ح- د مودّت آیت

﴿قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰ﴾؛[۱]

"ووایه: زهٔ له تاسو د خپل رسالت هېڅ بدله نهٔ غواړم؛ خو (یوازې دا چې زما) له نزدې خپلوانو (اهلبیتو) سره مینه کوئ"

له ابن عباس‌نه داسې نقل شوي دي چې کله د مودّت ایت نازل شو نو ځینو پوښتنه وکړه: یا رسول الله، ستاسو د کومو خپلوانو مینه چې په مونږ فرض شوې ده، هغوي څوک دي؟ وې فرمایل: علی او فاطمه او د هغو دواړو دوه زامن.[۲] او دا ایت هم د همدې موضوع په اړه ده پاک الله فرمایي: ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ...﴾[۳] عکرمه د دې ایت

۱. سوره شوریٰ: ۲۳.
۲. طبري، محب الدین، ذخائر العقبیٰ، مخ ۲۵؛ ابن حجر، الصواعق المحرمة، مخ ۱۰۱؛ شبلنجي حنفي، نور الابصار، مخ ۱۰۱.
۳. سوره اسراء: ۵۷.

Download from: www.aghalibrary.com

په شأن نزول کښې داسې فرمائي: ﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ...﴾ له دې ایته مراد پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله، علي، فاطمه، حسن او حسین‌علیهم‌السلام دي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۳- امام علي عليه السلام او د هغه د شيعه ؤ (پيروكارو) په حقله نازل شوي ايتونه

### الف- د خيرالبريه آيت

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ﴾؛[1] "بېشكه كومو كسانو چې ايمان راوړے او ښهٔ عملونه يې كړي دي دغه كسان له ټولو خلقو ډېر غوره دي."

ابن عساكر له جابر بن عبدالله انصاري د دې ايت په اړه داسې نقل كړي دي چې:

پېغمبراكرم صلى الله عليه وآله سره ؤم چې علي عليه السلام راغے. پېغمبر اكرم صلى الله عليه وآله وفرمايل: قسم په هغه خدا ے چې زما ځان د هغهٔ په اختيار كښې دے دا سړے او د دهٔ شيعه (پيروكار) په

---

۱. سوره بينه: ۷.

Download from: www.aghalibrary.com

قیامت کښې کامیاب دي او دا ایت ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ نازل شو، او خبره دومره مشهوره شوه چې کله به هم د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله اصحابو حضرت علي علیه السلام ولیدهٔ نو ویل به یې چې: هغه د ے خیرالبریه راغې.[۱]

## ب- د مفلحون آیت

﴿وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾؛[۲]

"... او یوازې دوی فلاح موندونکي دي."

له امام علي علیه السلام څخه روایت د ے چې وې فرمایل: سلمان فارسي ما ته وویل: یا اباالحسن کله به هم چې تهٔ زما په موجودګۍ کښې د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله مخې ته راغلې نو هغه حضرت به لاس زما به ملا وواهۀ او وېل به یې چې: سلمانه!

---

۱. سیوطی، عبدالرحمان، الدرالمنثور، د تیر ایت په تفسیر کښې.
۲. سوره بقره: ۵.

Download from: www.aghalibrary.com

دا سړے او د دۀ حزب (جماعت، ډله) بريالے (كامياب) دے.[۱]

خوشحال بابا د شعر په ژبه داسې وائي:

كــه پكار دې وي د خـدا ے پېژندګلي
پــيروي د محـمــدؐ كــړه د علــيؑ
پـــه محـــشر به هغه تور مخونه پاځي
چـې يې نــه دي تــورې خــاورې د تلي
د زړۀ زنګ په بل صېقل نــه لـرې كيږي
پـــه دوستـــۍ يـــې د عليؑ ده مصقلي
د عليؑ د آل دوستی د ايمـــان زړۀ دے
څـــوک دې شک په زړۀ په دا نه راولي
د علــيؑ آل پـــه مدح كښې جنت دے
د خوشحـال ختـک پـه دا ده تسلي

۱. حاکم حسکانی، شواهد التنزيل، ټوک ۱، مخ ۶۸.

Download from: www.aghalibrary.com

Download from: www.aghalibrary.com

## ٤- د امام علي عليه السلام او نورو په حقله ايتونه

الف. ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا﴾؛[1]

"... نو دوي به له هغو کسانو سره وي چې خدا ے ورته نعمتونه ورکړي دي[2] چې (هغه) پيغمبران او صديقان او شهيدان او نيکان دي او هم دوي ښهٔ ملګري دي."

داؤد بن سلېمان وائي:

---

١. سوره نساء: ٦٩.

٢. يعنې له هغوي سره يې نيکي کړې ده او د هغوي درناوې او عزت يې کړے دے.

Download from: www.aghalibrary.com

حضرت امام رضا عليه السلام له خپل پلار نيکونو او هغو له امام علي عليه السلام روايت کړے دے چې پېغمبراکرم صلى الله عليه وآله د دې ايت په باره کښې وفرمايل چې «له من النبيين نه مراد حضرت محمد صلى الله عليه وآله دے او له من الصديقين نه مراد علي بن ابي طالب دے، او له من‌الشهداء نه مراد حضرت حمزه، او له من الصالحين نه مراد حسن او حسين عليهما السلام، او له ﴿وَحَسُنَ أُوْلَـٰٓئِكَ رَفِيقًا﴾ څخه مراد امام مهدي عليه السلام دے. »[۱]

ب- ﴿وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِنَا فَقُلۡ سَلَـٰمٌ عَلَيۡكُمۡۖ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ﴾؛[۲]

"او کله چې تا ته هغه کسان راشي چې زمونږ په آيتونو يې ايمان راوړے دے نو ووايه: په تاسو دې سلام وي ستاسو پروردګار په خپل ځان باندې رحمت لازمي کړے دے."

۱. بحراني، سيد هاشم، البرهان في تفسيرالقرآن، ټوک ۱، مخ ۳۹۳.
۲. سوره انعام: ۵۴.

Download from: www.aghalibrary.com

له ابن عباس نه نقل شوي دي چې دا آیت د علي بن ابی‌طالب،حمزه، جعفر او زید په شان کښې نازل شوے دے.[۱]

ج- ﴿... وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡ﴾؛[۲]

"او په اعراف[۳] کښې یو شمېر سړي دي چې ټول (جنتیان او دوزخیان به) له مخونو پېژني."

ثعلبی د دې ایت په تفسیر کښې له ابن عباس نه داسې روایت نقلوي چې: اعراف له صراطه لوړ ځای دے چې عباس،حمزه، علي بن ابی‌طالب او جعفر طیار ورباندې

۱. فرات کوفي، تفسیر فرات الکوفي، مخ ۴۲.
۲. سوره اعراف: ۴۶.
۳. ځینو مفسرانو ویلي دي چې«اعراف» هغه دیوال دے چې د جنتیانو او دوزخیانو تر مینځ دي او ځینو ویلي دي چې«اعراف» د هغه دیوال له ټولو لوړ ځاے دے د روایتونو له مخې د جنتیانو او دوزخیانو په مینځ کښې یوه طبقه داسې ده چې اعراف ورته ویل کیږي دغه کسان لا د جنت او دوزخ مستحق نه وي.

Download from: www.aghalibrary.com

ناست دي او خپل مينه وال او محبان به د مخونو له نورانيته پيژني او خپل دښمنان به د مخونو له سپيرۀ والي پيژني.[١]

د - ﴿ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾؛[٢]

"بيا خداے په خپل رسول او په مؤمنانو، خپل اطمينان (تسلي) نازل كړ."

له ضحاك بن مزاحم نه نقل شوي دي چې دا ايت د هغو كسانو په حقله نازل شوے دے چې هغوي له وړومبيو وختونو څخه په رسول الله‌صلی‌الله‌علیه‌وآله باندې په ايمان ټينګ پاتې شول لكه علي‌علیه‌السلام، عباس او د بني هاشمو څو نور كسان.[٣]

١. ابن حجر، الصواعق المحرقه، مخ ١٠١.
٢. سوره توبه: ٢۶.
٣. طبرسي، فضل بن حسن، مجمع‌البيان، ټوک ٣، مخ ١٧.

Download from: www.aghalibrary.com

ه- ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا۟ وَجَـٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّـٰدِقُونَ ﴾؛[1]

"(حقیقي) مومنان هغه کسان دي، چې په خدا ے او د هغهٔ په رسول یې ایمان راوړے دے، بیا شکمن شوي نهٔ دي او په خپلو مالونو او سرونو(نفسونو) یې د خدا ے په لار کښې جهاد کړے؛ یوازې هم دوي رینښتیني دي."

ابن عباس وائي:

له دې آیته ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ مراد دا دے چې دې ډلې کسانو خدا ے او د هغهٔ رسول صلی الله علیه وآله تایید کړل، او هیڅکله یې په خپل ایمان کښې شک ؤنهٔ کړ. دا ایت د علی بن ابی‌طالب، حمزه بن عبدالمطلب او جعفر

١. سوره حجرات: ١٥.

Download from: www.aghalibrary.com

طیار په حقله نازل شو. او دا جمله ﴿وَجَـٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾، یعنی خپلو ځانونو او مالونو سره یې د خدا ے په لاره او اطاعت کښې جهاد وکړ او پاک الله دې ایت سره ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّـٰدِقُونَ ﴾ د هغوي رښتینوالے او وفاداري تأیید کړه.[1]

﴿مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٞ صَدَقُواْ مَا عَـٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا﴾؛[2]

"په مؤمنانو کښې داسې کسان شته، چې له خدا ے سره په کړیو ژمنو (عهد) باندې ټینګ ولاړ دي، ځینو خپله ژمنه پوره کړې (او په لاره کې یې شهیدان شوي دي) او ځینې (لا ورته) سترګې پر لاره دي او هډو یې (په خپله ژمنه) کښې بدلون رانۀ واستۀ."

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۸۶.
۲. سوره احزاب: ۲۳.

Download from: www.aghalibrary.com

حافظ ذهبی په دې حقله وائي:

حضرت علي ؑ د کوفې د جومات په منبر ناست ؤ چې پوښتنه ترې وشوه چې دا ایت ﴿ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٌ ﴾ د چا په حقله نازل شوے دے؟ هغۀ وفرمایل: ((خدا ے دې وبخښه، دا ایت زما او زما ترۀ حمزه او زما د بل ترۀ عبېده بن حارث بن عبدالمطلب په باره کښې نازل شوے دے. عبېده ځان قربان کړ او په بدر غزا کښې شهید شو، حمزه هم خپل ځان قربان کړ او دأحد په غزا کښې شهید شو او زۀ اوس مهال په دې انتظار کښې یم چې د دې امت بدبخت ترین کس زمادا ږیره په وینو سره رنګینه کړي، دا داسې ژمنه او عهد دے چې زۀ خپل حبیب ابوالقاسم (پیغمبر ﷺ) له دې خبر کړې یم.))[1]

---

١. فیروزآبادي، سید مرتضیٰ، فضائل‌الخمسه، ټوک ١، مخ ٢٨٧، په نقل سره له: ابن حجر، الصواعق‌المحرقه، مخ ٨٠؛ شبلنجي حنفي، نورالابصار، مخ ٩٧، د : ابن صباغ، الفصول المهمه کتاب څخه په نقل سره.

Download from: www.aghalibrary.com

ز. ﴿ أَفَمَن وَعَدْنَـٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَـٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَـٰهُ مَتَـٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴾؛[۱]

"آیا هغه کس چې مونږ ورسره ښه وعده کړې ده او هغې ته به ورسېږي، د هغه چا په څېر دے چې ورته ورته د دنیاوي ژوند وسائل ورکړي دي، بیا د قیامت پر ورځ (د حساب او سزا لپاره) له حاضر شویو کسانو څخه وي؟"

له مجاهد نقل شوي چې دا ایت ﴿أَفَمَن وَعَدْنَـٰهُ وَعْدًا حَسَنًا﴾ د علي او حمزه په باره نازل شوے دے او له دې ایته ﴿ كَمَن مَّتَّعْنَـٰهُ مَتَـٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾، مراد ابوجهل دے.[۲]

۱. سوره قصص: ۶۱.
۲. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۴۳۷.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۵- د امام علي عليه السلام د دښمنانو په حقله آیتونه

الف- ﴿ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ بِغَيْرِ مَا ٱكْتَسَبُوا۟ فَقَدِ ٱحْتَمَلُوا۟ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا﴾؛[۱]

"او هغه کسان چې مؤمنان او مؤمنانې بغېر له دې چې څه یې کړي وي ، ازاروي نو په تحقیق سره چې لوے تهمت (تور) او ښکاره ګناه یې (په شا) اوچته کړې ده."

له مقاتل نقل شوي دي چې دا ایت د حضرت علی بن ابی‌طالب په شان کښې نازل شوے دے؛ ځکه چې د منافقانو یوې ډلې به هغهٔ ته ډېر ازار او اذیت رَسَوَهٔ.[۲]

---

۱. سوره احزاب: ۵۸.

۲. واحدی نیشاپوری، اسباب‌النزول، مخ ۲۷۳.

Download from: www.aghalibrary.com

ب- ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضْحَكُونَ ۝٢٩ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴾؛[۱]

"بد کاران به تل په دنیا کښې په مؤمنانو پسې خندېدل، او کله چې به د هغوي (مؤمنانو) تر څنګه تېرېدل (نو په اشارو سره به یې) په هغوي پورې ټوقې (نخرې پېخرې) کولې."

زمخشري وائي:

ویل شوي چې علي بن ابی‌طالب له څو مسلمانانو سره یو محفل ته ننوتۀ نو منافقاتو په هغوي پورې ټوقې، مسخرې شروع کړې او ورپورې یې وخندل او ورته یې ګوتو سره اشارې کولې او بیا خپلو ملګرو ته ورغلل او ورته یې وویل چې نن مو اصلع (ګنجے) ولیدۀ، نو وړاندې له دې چې علي‌علیه‌السلام پیغمبر اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله ته ورسي دا ایت نازل شو.[۲]

۱. سوره مطففین: ۲۹ـ ۳۰.
۲. زمخشري، محمد بن عمر، الکشاف؛ فخر رازي، التفسیرالکبیر د تېر ایت په تفسیر کښې.

Download from: www.aghalibrary.com

ج- ﴿ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟... ﴾؛[۱]

"نو چې کله دا ‹الهي وعده› له نږدې ووينې نو د کافرانو مخونه به بدرنګه او تور شي."

له اعمش څخه نقل شوي دي چې د دې ايت په حقله يې وويل: کله چې کافران، د حضرت علي بن ابی‌طالب مقام ووينې نو مخونه به يې بدرنګ او تور شي.[۲]

د- ﴿ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ ۝ بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ ﴾؛[۳]

"نو زر به ته‌ ووينې او هغوی به هم وينې [چې] په تاسو کښې کوم يو لېونی دی؟"

له کعب بن مسعود او عبدالله بن مسعود څخه په دې باره کښې داسې نقل شوي دي چې:

---

۱. سوره ملک: ۲۷.
۲. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۲۶۵.
۳. سوره قلم: ۵ - ۶.

Download from: www.aghalibrary.com

هغوي له رسول الله‌صلى‌الله‌عليه‌وآله نه د علي‌عليه‌السلام په حقله پوښتنه وکړه. پېغمبراکرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله: «علي‌عليه‌السلام په اسلام کښې له تاسو ټولو وړومبې، په ايمان کښې له تاسو بشپړ او کامل، په علم کښې له تاسو زيات عالم په حلم او زغم کښې په تاسو کښې ترټولوغوره او د خداے لپاره په قهر کښې له تاسو ټولو زيات قهرجن دے. ما خپل علم هغهٔ ته ورزده کړ خپل رازونه مې هغهٔ ته وسپارل او خپل کارونه مې هم هغهٔ ته ورکړل هغه له اهلبيتو څخه زما جانشين او په امت کښې زما امين دے.» ځينې قرېشو وويل: «په رښتيا چې علي‌عليه‌السلام رسول الله‌صلى‌الله‌عليه‌وآله (نعوذ بالله) دهوکه کړے دے او د خپل ځان لېونے کړے يې دے او داسې يې ګڼي چې ګڼې هيڅ کوم عيب پکې نشته.» نو خداوند متعال دا ايتونه نازل کړل: ﴿ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ ۝ بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ ﴾.[1]

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۲۶۷.

Download from: www.aghalibrary.com

۵- ﴿ سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ۝ لِّلْكَـٰفِرِينَ لَيْسَ لَهُۥ دَافِعٌ ﴾؛[۱]

"يو سوال کوونکي د راپېښېدونکي عذاب لپاره سوال وکړ، چې دا (عذاب) يوازې د کافرانو لپاره دی [او] هېڅوک يې مخه نشي نيولې."

امام جعفر صادق‌عليه‌السلام له امام علي‌عليه‌السلام نه دا سې نقل کړي دي چې وې فرمايل:

کله چې رسول الله‌صلى‌الله‌عليه‌وآله حضرت علي‌عليه‌السلام په غدير خم مقام کښې خپل ځاے ناستے او جانشين وټاکۀ او وې فرمايل چې: «زۀ د چا مولا يم دا علي هم د هغۀ مولا دے» نو د پېغمبراکرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله دا وېنا په ښارونو کښې خپره شوه، او نعمان بن حارث فهری رسول الله‌صلى‌الله‌عليه‌وآله ته راغے او وې ويل: د خداے لخوا دې مونږ ته حکم راکړ چې لا اله الا الله ووايو او دا چې تا د خداے رسول وګڼو، بيا دې راته د جهاد حکم

---

۱. سوره معارج: ۱ - ۲.

Download from: www.aghalibrary.com

راکړ او د حج او د نمونځ او زکات او روژې حکمونه دې ټول مونږ ومنل او ورباندې مو عمل وکړ خو تهٔ راضي نهٔ شوې ان تر دې چې دا ځوان دې خپل جانشين جوړ کړ او داسې دې وويل: چې زهٔ د چا مولا يم دا علي‌ﷺ هم د هغه مولا دے، دا راته ووايه چې دا ستا حکم دے که د خدا ے ؟ پېغمبر وفرمايل: قسم په خدا ے چې بې له هغهٔ کوم معبود نيشته دا د خدا ے پاک حکم دے. نعمان مخ واړوهٔ او داسې يې وويل چې: خدايه! که دا خبره رښتيا وي او دا حکم ستا لخوا وي نو بيا له اسمانه په ما د کاڼو باران اوروه او يا سخت عذاب راباندې نازل کړه! نو خدا ے ورباندې د کاڼو عذاب رانازل کړ او هغه يې هلاک کړ او بيا دا ايتونه نازل شول چې:﴿ سَأَلَ سَآئِلٌ بِعَذَابٍ...﴾ .[١]

---

١. طبرسي، فضل بن حسن، مجمع البيان فی تفسير القرآن، د دې ايت په تفسير کښې.

Download from: www.aghalibrary.com

و- ﴿ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ ٱلۡقَوۡلِ﴾؛[۱]

"تهٔ به هغوي د خبرو اترو له طرزه هم وپېژنې."

له ابوسعيد خدري‌نقل شوي دي چې له دې ايت نه د خدا ے تعالیٰ مراد، علي بن ابی‌طالب سره د منافقانو کينه ده.[۲]

ز- ﴿ أَفَمَن كَانَ مُؤۡمِنٗا كَمَن كَانَ فَاسِقٗاۚ لَّا يَسۡتَوُۥنَ ﴾؛[۳]

"ايا نوڅوک چې مؤمن وي،د هغه چا غوندې دے چې فاسق وي؟ (نهٔ هيڅ کله،دا دواړه سره) برابر نهٔ دي."

ابن عباس‌وائي:

امام علي‌عليه‌السلام او وليد بن عقبه په مباحثې او لانجې اخته وو. وليد وويل: زما نيزه له تا تېره ده، زما ژبه ستا له ژبې تېزه ده، او په لښکر کښې زما مقام له تا اوچت دے. امام علي‌عليه‌السلام هغهٔ ته وويل چې: غلے شه اے فاسق سړيه! او

۱. سوره محمد: ۳۰.
۲. ابن مغازلی، مناقب علی بن ابی‌طالب، مخ ۸۰.
۳. سوره سجده: ۱۸.

Download from: www.aghalibrary.com

خدا ے تعالیٰ دا ایتونه نازل کړل: ﴿ أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴾.[۱]

ح- ﴿أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ﴾؛[۲]

"[هغو دوو فرښتو ته ویل کېږي:] هر ناشکره کینه کښ په دوزخ کښېږ وغورځوئ!"

له شریک بن عبدالله څخه د دې ایت په حقله داسې نقل شوي دي چې:

یوه ورځ زهٔ اعمش سره ؤم هغه بیمار و. ابو حنیفه او ابن شبرمه او ابن ابی‌لیلیٰ د هغه پوښتنې ته راغلل هغه ته یې وویل: اے ابومحمده، تهٔ اوس د خپل عمر وروستۍ ورځې تیروی او د مرګ په خوله کښې پروت یی، تا به تل د علي

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۴۴۶؛ واحدي نیشابوری، اسباب النزول، مخ ۲۶۳.

۲. سوره ق: ۲۴.

Download from: www.aghalibrary.com

بن ابيطالب په حقله بل بل شان روايتونه نقلول او س په خپل کار پښېمانه شه او توبه وکړه! اعمش وويل: زما شا ته بالخت کيږدئ چې تکيه ووهم! کله چې هغه تکيه شو. وې ويل: ابو متوکل ناجی له ابوسعيد خدریڅخه ما لره داسې روايت نقل کړ چې رسول الله‌صلی‌الله‌عليه‌وآله وفرمايل: کله چې د قيامت ورځ شي، نو خدا ے تعالیٰ به ما او علي‌عليه‌السلام ته وفرمائي چې: خپل دښمنان دوزخ ته واچوئ او خپل دوستان او منوونکي جنت ته بوځئ؛ او همدا د خدا ے پاک دا کلام دے چې فرمائي: ﴿ أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ﴾ ابو حنيفه خپلو ملګرو ته وويل: پاځيږئ چې لاړ شو هسې نه چې له دې هم سختې خبرې وکړي.[۱]

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۱۸۹.

Download from: www.aghalibrary.com

Download from: www.aghalibrary.com

## ٦- د امام علي﷣ د محبت او ولايت په حقله ايتونه

الف- ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴾؛[1]

"اے هغو کسانو چې ايمان مو راوړے دے له خدايه وويرېږئ او له رېښتينو سره شئ."

«امام باقر﷣ وفرمايل: ﴿ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴾؛ يعنې دا چې علي بن ابی طالب عليه‌السلام سره شئ.»[2]

---

١. سوره توبه: ١١٩.

٢. گنجی شافعی، کفايه الطالب، مخ ٢٣۶.

Download from: www.aghalibrary.com

ب- ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا﴾؛[1]

"بېشکه کومو کسانو چې ايمان راوړے دے او نېک عملونه يې کړي دي رحمان خداے به ډېر زر (د خلقو په زړونو کښې) د دوي مينه واچوي."

د دې ايت په حقله له علي بن موسیٰ الرضاعليه السلام او هغهٔ له خپلو پلار نيکونو او هغوي له جابر بن عبدالله انصاري داسې نقل کړي دي چې:

رسول اکرم‌صلی الله عليه وآله علی بن ابی‌طالب ته وفرمايل: يا علي، ووايه چې خدايا؛ زما محبت د خلقو په زړونو کښې واچوې. خدايا! په خپله زما سرپرستي وکړې، خدايا په خپله ما محبوب کړې نو خداے دا ايت نازل کړ: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ

---

۱. سوره مريم: ۹۶.

Download from: www.aghalibrary.com

وُدًّا﴾، او اوس مهال داسې مومن سړے او ښځه نۀ شي پېدا کولې مګر دا چې زړۀ سره د اهلبيتو﵈ مينه وال دي.[١]

ج- ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ﴾؛[٢]

" (اے پېغمبره) تۀ يوازې وېرووونکے يې او هر قوم لره يو هادي (لارښود) دے."

ابن عباس وائي: رسول اکرمﷺ خپل لاس په خپلې سينې کېښود او وې فرمايل: زۀ ( دخدا ے له عذابه) ويرووونکے يم، بيا يې د علي﵇ په اوږو لاس کېښود او اشاره يې وکړه چې تۀ د خلقو هادي او هدايت کوونکے يې. بلکې د

١. بحراني، سيد هاشم، غايه المرام، ٣٧٣.
٢. سوره رعد، آيت ٧.

Download from: www.aghalibrary.com

هدايت لټوونكي به، له ما وروسته ستا په ذريعې سره هدايت كيږي.[۱]

د - ﴿ وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلاً إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴾؛[۲]

"او چې كله (د خداے د قدرت ښودلو لپاره) د مريم بي بي د زوے مثال وړاندې شو، ناڅاپه ستا قوم ترې شور (چغې سورې) جوړ كړ."

امام علي‌عليه‌السلام فرمائي:

يوه ورځ پېغمبراكرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله ته ورغلم په داسې حال كښې چې هغه د قرېشو په محفل كښې ناست ؤ. هغه حضرت ماته وكتل او وې فرمايل: يا علي! په دې امت كښې ستا مثال، د عيسىٰ بن مريم په شان دے؛ ځينې كسان د علي‌عليه‌السلام مينه

۱. طبرى، محمد بن جرير، جامع‌البيان فى تأويل آى القرآن‌التفسير الطبرى، ټوک ۱۳، مخ ۷۹؛ فخر رازى، التفسيرالكبير، د تير ايت په تفسير كې.
۲. سوره زخرف:۵۷.

Download from: www.aghalibrary.com

وال ( محبان) شول او په دې اړه يې افراط وکړ (يعنې ورته يې خدا ے وويل) او ځينې کسان د علي علیه السلام دښمنان شول (يعنې د هغهٔ له امامت او ولايت نه انکار وکړ) او په دې اړه يې افراط وکړ. کوم کسان چې هلته ناست وو ځينو پکې وخندل او وې ويل چې: وګورئ خپل ترهٔ زوی څرنګه د عيسیٰ بن مريم په څير ګڼي. نو په دغه وخت کښې دا ايت نازل شو ﴿وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلاً﴾.[1]

٥- ﴿ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٌ مِّنۡهَا وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوۡمَئِذٍ ءَامِنُونَ ۝٨٩ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ﴾[2]

"هغه کسان چې له نېکۍ سره (آخرت ته) راشي؛ نو ورته به غوره بدله ورکړې شي او د هغې ورځې له ويرې به ډاډمن (په امان کښې) وي. او هغه کسان چې له بدۍ سره (آخرت ته) راشي؛ نو پړمخې به په اور (دوزخ) کښې وغورځول شي."

---

١. حاکم حسکانی، شواهد التنزيل، ټوک ٢، مخ ١۶٠.
٢. سوره نمل: ٨٩.

Download from: www.aghalibrary.com

ابا جعفر امام محمدباقر عليه السلام فرمائي:

ابوعبدالله جدلي اميرالمؤمنين علي عليه السلام ته راغے او امام ورته وفرمايل: اے اباعبدالله، آيا د دې ايت ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ ﴾ له تفسيره دې خبر کړم. ورته يې وويل: هو! خبر مې کړه قربان دې شم، هغهٔ وفرمايل: حَسَنَه، له مونږ اهلبيتو سره مينه کول دي، او سيئه له مونږ سره کينه او بُغض کولو ته وائي. بيا يې پوره ايت تلاوت وکړ.[۱]

حمزه بابا وائي:

محبت د اهلبيتوٴ مـــې روزي کـــړې
دې جنت تـــه دې زمـــا اوشـــي خلود
تل د دوي د مينې اور مې دې تازه وي
د لوګي په څېر مې تهٔ نهٔ کړې مفقود

---

۱. طبرسي، فضل بن حسن، مجمع البيان، د تېر ايت په تفسير کښې.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۷- په اسلام کښې د علي عليه السلام ورومبيتوب

الف- ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾؛[۱]

"او نمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ."

له ابن عباس نه نقل شوي دي چې: دا ايت د رسول الله صلی الله علیه وآله او علي بن ابی طالب په باره کښې نازل شوے دے. هغه دوه ړومبني کسان وو چې نمونځ يې ادا کړ او رکوع يې وکړ.[۲]

ب- ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ﴾؛[۳]

---

۱. سوره بقره: ۴۳.
۲. بحراني، سيدهاشم، البرهان في تفسير القرآن، ټوک ۱، مخ ۹۲.
۳. سوره مزمل: ۲۰.

Download from: www.aghalibrary.com

"په حقيقت کښې ستا رب پوهېږي، چې ته د شپې له درېو ځخه دوو برخو ته نږدې او (يا) د (هغې) نيمائي او (يا) د هغه درېمه برخه [نمانځه ته] راپاځېږې او ستا له ملګرو يوه ډله هم (دغسې کوي)."

له ابن عباس نقل شوي دي چې: وړومبې هغه کس چې نيمه شپه له پېغمبر اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله سره نمانځه ته پاڅيده، علي‌علیه‌السلام ؤ، او وړومبې کس چې له پېغمبر اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله سره يې بيعت او هجرت وکړ، هغه هم علي‌علیه‌السلام ؤ.[1]

علامه اقبال په يو فارسي شعر کښې وائي:

مسلم اول شاه مردان عليّ

عشق را سرمايهٔ ايمان عليّ

---

١. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ٢، مخ ٢٩٢.

Download from: www.aghalibrary.com

ج- ﴿ وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ ۙ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ﴾؛[١]

"او چا چې رښتيا(خبره) راوړه او کومو کسانو چې پرې باور وکړ(؛نو) هغوي پرهېزګاران دي."

ابن طفيل له حضرت علي ﷺ نه نقل کړي دي چې: هغه کس چې رښتينې وينا يې راوړه رسول الله ﷺ دے او هغه کس چې د هغۀ رښتينوالے يې تائيد او تصديق کړ هغه زۀ وم او له ما نه بغېر نورو ټولو د هغۀ وينا ردکړه او وې نۀ منله او کافران وو.[٢]

د- ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَـٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴾؛[٣]

---

١. سوره زمر: ٣٣.
٢. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ٢، مخ ١٢٢.
٣. سوره انعام:٨٢.

Download from: www.aghalibrary.com

"هغه کسان چې ایمان یې راوړے دے او خپل ایمان یې په ظلم (شرک) سره نۀ دے ککړ کړے یوازې د دغو کسانو لپاره امن دے او هم دوي هدایت موندونکي دي."

مجاهد له ابن عباس‌نه داسې نقل کړي دي چې:

له ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ نه مراد، علي بن ابی‌طالب دے او له ﴿بِظُلۡمٍ ﴾ څخه مراد شرک دے. قسم په خدا ے چا چې هم ایمان راوړۀ، نو له ایمانه وړاندې مشرکان وو، بې له علي‌علیه السلام نه چې هغۀ په خدا ے ایمان راوړۀ او له دې وړاندې یې یوه شیبه هم له خدا ے سره څوک شریک نۀ ؤ ګرځولے هو، علي‌علیه السلام وړومبنے کس ؤ چې ایمان یې راوړۀ.[1]

۵- ﴿ وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ ﴾؛[2]

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۱۹۷.
۲. سوره لقمان: ۲۲.

Download from: www.aghalibrary.com

"او څوک چې خپل ځان خدا ے ته وسپاري او نېکوکاره وي؛ نو هغۀ په حقيقت کې کلکې دستې باندې منګولې ښخې کړې دي (په ډاډمن لاسوند يې تکيه کړې ده)"

انس بن مالك وائي: دا ايت د حضرت امام علي بن ابي طالب په حقله نازل شو. هغه وړومبنے کس ؤ چې خپل ايمان يې خدا ے لره خالص او سوچه کړ او خپل ځان يې د خدا ے (د دين د خدمت) لپاره وقف کړ.[1]

و- ﴿ ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٧﴾ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ

---

١. بحراني، سيدهاشم، غاية المرام، مخ ۴۳۴.

Download from: www.aghalibrary.com

وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴾؛[۱]

"هغه (فرښتې) چې عرش پورته کوي او هغه (فرښتې) چې ترې ګیر چاپېره دي، ټولې د خپل رب په ستائنې سره د هغهٔ پاکي بیانوي او ایمان پرې لري او مؤمنانو لپاره(داسې) بخښنه غواړي، پالونکیه! ستا رحمت او علم په هر څه خپور دے؛ نو هغه کسان وبخښې چې توبه یې ایستلې او ستا په لاره روان دي او د دوزخ له اوره یې وساتې. پالونکیه! هغوي او نېک پلرونه او ښځې او اولاد یې د جنت همېشنیو باغونو ته داخل کړې، چې تا ورسره وعده کړې؛(ځکه) چې یوازې تهٔ لوے حکیم یې. او له بدیو یې وساتې او تهٔ چې څوک په هغه ورځ (قیامت) له بدیو

۱. سوره مؤمن: ۷ - ۹.

Download from: www.aghalibrary.com

وژغورې؛نو په يقين سره چې تا پرې رحم کړے دے او دا هماغه ستره بريا او کاميابي ده!"

ابوالاسود دئلي وائي:

حضرت علي عليه السلام وفرمايل: فرښتې کلونه او مياشتې وځنډيدې(صبر يې وکړ) او يوازې رسول اکرم صلى الله عليه وآله او زما لپاره يې استغفار کوۀ، او دا دوه ايتونه ﴿ ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ... إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ زمونږ په شان کښې نازل شول. د منافقانو يوې ډلې وويل چې: نو بيا دا جمله «مِنْ آبائِهِمْ وَ ذُرِّيّاتِهِمْ» د چا په حقله نازله شوې ده؟ علي عليه السلام وفرمايل: سبحان‌الله! آيا ابراهيم ، اسماعيل ، اسحاق او يعقوب زمونږ پلرونه نۀ دي؟[1]

ز- ﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ۝ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ﴾؛[2]

---

۱. ابن عساکر، تاريخ مدينة دمشق، ټوک ۳۷، مخ ۲۹.
۲. سوره واقعه: ۱۰ - ۱۱.

Download from: www.aghalibrary.com

"او هغه کسان چې (له ټولو نه په ایمان کښې) مخکې شول، هم دوي (خدا ے ته) نږدې دي."

ابن عباس د دې ایت په حقله داسې وائي:

سابقون دا کسان دي: د موسیٰ لپاره، یوشع بن نون او د عیسیٰ لپاره شمعون بن یوحنّا او د پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله لپاره علي بن ابی‌طالب دا هغه وړومبني کسان وو چې په دوي یې ایمان راوړے ؤ.[1]

﴿وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ﴾[2]

"او د ښي طرف ملګري او څه (خوشبخته) دي د ښي طرف ملګري."

جابر جعفی له امام محمد باقرعلیه‌السلام نه داسې نقلوي چې:

علي بن ابي‌طالب وفرمایل چې: حضرت محمدصلی‌الله‌علیه‌وآله د ګل (پیر) په ورځ په رسالت مبعوث شو او ما د نهې (منګل) په

---

۱. شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۲۱۷.

۲. سوره واقعه: ۲۷.

Download from: www.aghalibrary.com

ورځ سحر وختي په هغهٔ ايمان راوړهٔ، کله چې پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله نمونځ ادا کولې نو ما به هم ورسره ښي طرف ته نمونځ تر سره کوهٔ او بې له ما بل څوک سړے له هغهٔ سره نهٔ ؤ چې خدائے دا ايت نازل کړ ﴿وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ...﴾.[1]

ح- ﴿وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ﴾؛[2]

"او کوم کسان چې له هغوی [=مهاجرينو او (انصارو)] وروسته راغلي دي (او) وائي: ((پالونکيه! مونږ او زمونږ هغه ورونړه وبخښې، چې له مونږه مخکې يې ايمان راوړے دے."

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۲۲۰.
۲. سوره حشر: ۱۰.

Download from: www.aghalibrary.com

ابن عباس په دې اړه وائي: حضرت علي عليه السلام لپاره استغفار کول په قران کښې پر هر مسلمان فرض کړې شوي هلته چې فرمايي: ﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ﴾؛ او په ايمان کښې مخکښ يوازې علي عليه السلام دے.[1]

ط- ﴿أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِ﴾؛[2]

"آيا حاجيانو ته اوبۀ ورکول او د مسجدالحرام ودانول تاسو د هغه چا (ايمان او عمل) سره برابروئ چې چا په خدا ے او د قيامت په ورځ يې ايمان راوړے دے او د خدا ے په لاره

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۲۴۹.
۲. سوره توبه: ۱۹.

Download from: www.aghalibrary.com

کښې يې جهاد کړے دے؟ د خدا ے په نزد هيڅ کله برابر نهٔ دي."[۱]

له انس بن مالكنه په دې حقله دا سې نقل شوي دي چې وې ويل:

«عباس او شيبه ناست وو او په يو بل يې فخر او وياړ ځرګندوهٔ، عباس وويل: زهٔ له تا غوره يم، ځکه چې زهٔ د رسول الله‌صلی الله علیه وآله ترهٔ، د هغهٔ د پلار وصي او حاجيانو ته ساقي(اوبهٔ ورکوونکے) يم. شيبه وويل: زهٔ له تا بهتر يم. زهٔ د خدا ے د کور امين او د هغهٔ خزانچي يم ولې يې زهٔ د خپل کور امين وګرځولم او تهٔ يې ونهٔ ګرځولے؟ په دغه وخت کښې، امام علي‌علیه السلام رانتوتهٔ او هغو دواړو هغه له خپلو

۱. دا ايت او ورپسې څلور ايتونه د هغو کسانو په حقله نازل شوي دي چې مشرکان وو او حاجيانو ته به يې اوبه ورکول او د کعبې ساتل يې د ځان لپاره فخر ګڼهٔ خو خدا ے فرمايلي دي: ﴿وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ﴾ (سوره بقره:۲۲۱) مؤمن بنده له مشرکه ډېر ښه دے او مشرک که هر څه وي فضيلت نهٔ لري.

Download from: www.aghalibrary.com

خبرو خَبَر کړ، نو علي‌علیه‌السلام وویل چې زهٔ له تاسو دواړو غوره یم زهٔ هغه وړومبنے کس یم چې ایمان مې راوړۀ او هجرت مې وکړ. درې واړه د فېصلې لپاره پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله ته ورغلل او ټوله خبره یې ورته تېره کړه هغهٔ بزرګوار دوي ته څه ځواب ورنهٔ کړ ان تر دې چې دوي راستانهٔ شول، څو ورځې پس وحي نازله شوه او پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله هغوي درې واړه راوغوښتل او داسې تلاوت یې وکړ: ﴿ أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ...﴾.[1]

---

۱. سیوطي، عبدالرحمان، الدر المنثور، د تېر ایت په تفسیر کښې.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۸- له پیغمبر اکرمﷺ سره، د حضرت علي علیه السلام د ملګرتیا او مرستې په حقله ایتونه

الف- ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ ...﴾؛[1]

"او په خلقو کښې داسې هم شته چې خپل ځان د خدا ے د رضا لپاره خرڅوي" [2]

د دې مبارک آیت د شان نزول په حقله په تېرو مخونو کښې تفصیل بیان شو ے د ے.

---

۱. سوره بقره: ۲۰۷.

۲. له ابن عباسه روایت د ے چې دا آیت د حضرت علي علیه السلام په شان کښې نازل شو ے د ے چې د رسول الله د هجرت په شپه د هغه حضرت په بستره کښې څملاستۀ او پیغمبر اکرمﷺ د دښمنانو له شره وژغورېدۀ.

Download from: www.aghalibrary.com

﴿وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ﴾[۱]

"او كه تاسو دواړه (د (پېغمبر) په خلاف د يو بل ملاتړې شئ (؛نو زيان ورته نهٔ شئ رسولې)؛ځكه چې خدا ے پخپله د هغهٔ مرستندويه دے او ورپسې جبرائيل او د مؤمنانو صالح او فرښتې (هم) د (هغهٔ) ملاتړې دي."

رسول اكرم صلی الله علیه و آله وفرمايل چې: صَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ ، على بن ابى‌طالب د ے.[۲]

ب- ﴿ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ۝٢٩ هَٰرُونَ أَخِي ۝٣٠ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ أَزۡرِي ۝٣١ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي﴾؛[۳]

۱. سوره تحريم: ۴.
۲. متقي هندي، علي، كنز العمال، ټوک ۱، مخ ۲۷۳.
۳. سوره طه: ۲۹ - ۳۲.

Download from: www.aghalibrary.com

"او ماته زما له کورنۍ یو وزیر (مرستیال) وګرځوې، هارون ورو زما ، او ملا مې په هم دهٔ سره قوي او مضبوطه کړې او هغه زما په کار کښې شریک کړې."

له اسماء بنت عمیس داسې نقل شوي چې: له رسول الله صلی الله علیه وآله مې واورېدل چې د خدا ے په درګاه کښې عرض وکړ: ګرانه خدایه! زهٔ هماغه څه وایم چې زما ورور موسیٰ به ویل، خدایا ما لره زما له کورنۍ یو وزیر وټاکې، زما ورور علي، چې ملا مې په هغهٔ سره مضبوطه او ټینګه کړې او هغه زما په کارونو کښې زما شریک وګرځوې...[1]

ج- ﴿ وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ وَٱجۡعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلۡطَٰنٗا نَّصِيرٗا ﴾؛[2]

"او ووایه: اے زما ربه! ما په ښه او رښتیا (طریقې) سره (کارونو ته) داخل کړې او په ښه او رښتیا (طریقې) سره مې

---

۱. طبري، محب‌الدین، ریاض‌النضره، ټوک ۲، مخ ۱۶۳.
۲. سوره اسراء: ۸۰.

Download from: www.aghalibrary.com

ترې بهر کړې او زما لپاره له خپل اړخه يو مدد کوونکے حجت وګرځوې."

ابن عباس وائي: قسم په خداے چې پاک الله د خپل پېغمبرصلی‌الله‌علیه‌وآله دعا قبوله کړه او على بن ابى‌طالب يې هغهٔ ته عطا کړ؛ چې د دښمن په مقابل کښې مرسته او مددکوونکے قوت او طاقت دے.[1]

د- ﴿...وَجَنَّتٌ مِّنْ أَعْنَـٰبٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ ...﴾؛[2]

"او (هم دا رنګ) د انګورو باغونه اوپټې او د کجورو ونې دي، د ځينو بيل بيل ښاخونه له يوې تنې پورته شوي او ځينې يې له هرې تنې يوازې يو ښاخ پورته شوي وي."

جابر بن عبدالله وائي: وامې وريدل چې د خداے ګران پېغمبرصلی‌الله‌علیه‌وآله حضرت علي ته وفرمايل چې: يا علي،خلق له

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۱، مخ ۳۴۹.
۲. سوره رعد: ۴.

Download from: www.aghalibrary.com

مختلفو ریښو(جرړو او نسلونو) دي او ته او زه له یوې ریښې یوو. پیغمبر اکرمﷺ بیا دا ایت تلاوت کړ: ﴿ وَجَنَّـٰتٌ مِّنْ أَعْنَـٰبٍ.. ﴾.[۱]

ه- ﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ ﴾؛[۲]

"آیا څوک چې د خپل رب له خوا روښانه دلیل ولري او ورپسې د هغه (خدای) له لوري گواه هم ولري، له هغه چا سره برابر دی چې هیڅ دلیل نه لري؟"

عباد بن عبدالله له علي‌عليه‌السلام څخه نقل کړي دي چې وې فرمایل د دې آیت ﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾، څخه

۱. حاکم نیشابوري، المستدرك علی الصحیحین، ټوک ۲، مخ ۲۴۱.

۲. سوره هود: ۱۷.

Download from: www.aghalibrary.com

مراد رسول الله ﷺ دے او له ﴿ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ ﴾، شاهد څخه مراد زۀ یم.[۱]

و- ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾؛[۲]

"(الله) هغه ذات دے چې تا ته یې په خپلې مرستې او مؤمنانو سره قوت درکړ."

له ابوهریره څخه داسې نقل شوي دي چې: د خداے ګران رسول ﷺ وفرمایل: په کومه شپه چې زۀ اسمان ته بوتلے شوم نو ومې لیدل چې په عرش باندې لیکلي دي چې بې له ما بل کوم معبود نیشته او هیڅ شریک نۀ لرم. محمد زما بنده او رسول دے. او هغه مې د علي په وسیله تائید کړ.[۳]

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۲۷۶.
۲. سوره انفال: ۶۲.
۳. ګنجي شافعي، کفایة الطالب، مخ ۲۳۴؛ متقي هندي، علي، کنز العمال، ټوک ۶، مخ ۱۵۸.

Download from: www.aghalibrary.com

په دې باره نور ایتونه هم شته لکه: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِى نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ ﴾[۱] چې د دې په اړه د ابن عباس روایت مو د کتاب په سر کښې نقل کړ.

ز- ﴿ وَفِى ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ﴾.[۲]

"او (په هغهٔ کښې) پکار دي چې رغبت کوونکي له یو بله وړاندې شي."

جابر بن عبدالله انصاري په دې حقله وائي: پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله په طائف غزا کښې علي علیه السلام راوغوښت او له هغهٔ سره یې نجوا (د غوږ خبرې وکړې) بیا یې وفرمایل: اے خلقو! تاسو وایئ چې ما له علي علیه السلام سره نجوا (پټې خبرې) وکړې نه

۱. سوره بقره: ۲۰۷.
۲. سوره مطففین: ۲۶.

Download from: www.aghalibrary.com

داسې نه ده ما له هغه سره نجوا نه ده کړې بلکې خدا ے تعالیٰ ورسره نجوا وکړه: ﴿ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ﴾؛[۱]

ح- ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾؛[۲] ای "پېغمبره! ستا لپاره خدا ے او هغه مؤمنان بس دي چې ستا پیروي کوي."

امام جعفر صادق عليه السلام څخه داسې نقل شوي دي چې دا ایت د علي عليه السلام په شان نازل شوے دے.[۳]

ط- ﴿ قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي ﴾؛[۴] ((ووایه :(( دا زما لار ده، چې زه او زما

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۳۲۵.
۲. سوره انفال: ۶۴.
۳. بحراني، سیدهاشم، البرهان في تفسیرالقرآن، د تېر ایت په تفسیر کښې.
۴. سوره یوسف: ۱۰۸.

Download from: www.aghalibrary.com

(پيروکار)لاروي په پوهې او روښانه دليل سره (خلق) د خدای لورې ته رابولو!))

امام محمد باقرؑ وفرمايل: چې د ﴿ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ﴾، څخه مراد، علي بن ابي‌طالب دی.[1]

ی- ﴿ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا﴾؛[2]

"او ووايه: حق راغی او باطل ورک شو بېشکه چې باطل ورکېدونکی دی."

جابر بن عبدالله انصاري په دې حقله وائي:

امام عليؑ وفرمايل: له پېغمبراکرمﷺ سره مکې ته راننوتم هلته ۳۶۰ بتان وو چې د هغو عبادت کيدهٔ، پېغمبراکرمﷺ ماته حکم راکړ چې ټول وغورځوم د کعبې

۱. فرات کوفي، تفسير فرات الکوفي، د تېر ايت په تفسير کښې.
۲. سوره اسراء: ۸۱.

Download from: www.aghalibrary.com

په بام اوچت هم یو بت ؤ چې ورته یې هُبَل ویل. رسول الله‌صلی‌الله‌علیه‌وآله ما ته سترګې وغړولې او وې فرمایل: تهٔ زما په اوږو پاس خیژې یا زهٔ ستا په اوږو وخیژم چې هبل د کعبې له بامه کوز راوغورځوم؟ علی وویل: یا رسول الله، زه ستا په اوږو پاس خېژم؟ پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله ټیټ شو او زهٔ د هغهٔ په اوږو اوختم په هغه خدا ے مې دې قسم وي چې انسان یې پېدا کړ که غوښتلې مې چې اسمان ته لاس ورسوم نو لاس مې رسوې شو. بیا مې هبل د کعبې له پاسه کوزه راوغورځوهٔ او خدا ے پاک دا ایت نازل کړ: ﴿ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ..﴾ نو له دې پس پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله بېت‌الله الحرام ته ننوت او دوه رکعته نمونځ یې ادا کړ.[۱]

---

۱. بحراني، سیدهاشم، البرهان فی تفسیرالقرآن، د تېر ایت په تفسیر کښې.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۹- د ولایت په حقله ایتونه

الف- ﴿ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴾؛[۱]

"په هغه ورځ چې روح (روح القدس) او فرښتې په يو صف کښېنې اودرېږي او هيڅوک به د بخښونکي خدا ے له حکم نه بغېر خبره نهٔ شي کولې (او کله چې خبرې کوي نو) سمې خبرې به کوي."

امام محمد باقر علیه السلام د دې آيت په حقله وفرمايل:

کله چې د قيامت ورځ راورسيږي نو د حساب کتاب په وخت به د بندګانو له ذهنه دا کلمه لا اله الاالله ووځي، خو يوازې به د هغو کسانو په ياد وي چا چې د علي علیه السلام ولايت

۱. سوره نبأ: ۳۸.

Download from: www.aghalibrary.com

اقرار کړے وي؛ لکه خدا ے پاک فرمایلي دي چې... ﴿ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ﴾ ؛ یعنی یوازې د علي‌ علیه السلام د ولایت پیروکارو ته به د دې کلمې لااله‌الاالله د ویلو اجازت ورکړې شي.[۱]

ب- ﴿ عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ۝١ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ۝٢ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ﴾ ؛[۲]

"هغوي يو له بله د څه شي په حقله پوښتنه کوي؟ د ډېر اهم خبر په حقله چې تل يې په حقله له يو بل سره اختلاف لري"

له ابوحمزه ثمالي نه داسې نقل شوي دي چې وائي:

---

۱. فرات کوفي، تفسير فرات الکوفي، مخ ۲۰۲، حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۳۲۲.
۲. سوره نبأ: ۱ - ۲.

Download from: www.aghalibrary.com

له امام محمد باقرؑ مو د دې ایت ﴿ عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ۝١ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ په باره کښې پوښتنه وکړه، هغه حضرت وفرمایل: امام عليؑ به تل خپلو ملګرو ته فرمایل چې: قسم په خدا ے! زهٔ هغه لوے خبر یم، هماغه چې ټولو امتونو په خپلو مختلفو ژبو سره د هغهٔ په حقله اختلاف وکړ. قسم په خدا ے چې د خدا ے لوے خبر او لویه نخښه (ایت) زهٔ یم.[1]

عمرو بن عاص په خپلې مشهورې قصیدې جلجلیه کښې د معاویه د ملامت کولو په باره کښې وائي:

نَصرناكَ مِن جَهلنا يَابنَ هِند

عَلى النَّبإِ الأَعظمِ الأَفْضل[2]

اے د هندې بچیه! د خپل جهالت له امله مو ستا مرسته وکړه، او د هغه لوے او غوره خبر په خلاف مو غبر پورته کړ.

۱. فرات‌کوفي، تفسیر فرات‌الکوفي، مخ ۲۰۲.
۲. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۳۱۸.

Download from: www.aghalibrary.com

ج- ﴿وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ﴾؛[۱]

"او دوي راېسار کړئ (وې دروئ ځکه) چې پوښتنه به ترې کېږي!"

دیلمي له ابوسعید خدري څخه نقل کړي دي چې رسول الله صلی الله علیه و آله وفرمایل چې: له ﴿وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ﴾، څخه مراد دا دے چې د امام علي علیه السلام ولایت په حقله به له هغو پوښتنه کېږي.[۲]

خوشحال بابا د امام علي علیه السلام د ولایت په حقله وائي:

که دا دومره ویل کا ورته رخصت دے
محــمــدّ دے پېغــمبر علـــيّ ولـي

۱. سوره صافات:۲۴.
۲. ابن حجر، الصواعق المحرقه، مخ ۸۹.

Download from: www.aghalibrary.com

د- ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾؛[1]

"اے ایماندارو! الهي تقوا اختیار کړئ او په رسول یې ایمان راوړئ، چې تاسو ته د خپل رحمت دوه برخې در عطا کړي او نور ستاسو په برخه کړي، چې د هغه په وسیلې سره تګ وکړئ او تاسو وبخښي او خداے ډېر مهربان بخښونکے دے."

سعد بن طریف نقلوي چې امام محمد باقر عليه السلام د ﴿ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ ﴾، په حقله وفرمایل چې څوک هم د علي عليه السلام د ولایت اقرار وکړي او د هغهٔ پیروي وکړي نو هغه به له نوره برخمن کیږي.[2]

---

۱. سوره حدید: ۲۸.
۲. حاکم حسکانی، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۲۲۸.

Download from: www.aghalibrary.com

ه- ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾؛[۱]

"نو ستا په رب قسم ! چې له ټولو به (د قيامت په ورځ) پوښتنه کوو."

له سدي نقل شوي دي چې له خلقو نه به، د امام علي‌عليه‌السلام د ولايت په باره کښې پوښتنه کيږي.[۲]

و- ﴿ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْأَخِرَةِ...﴾؛[۳]

"خدا ے پاک هغه کسان چې ايمان يې راوړے دے د خپل ثابت قول او اعتقاد په سبب د دې دنيا په ژوند کښې او په آخرت کښې ثابت قدمه ساتي."

---

۱. سوره حجر: ۹۲

۲. حاکم حسکانی، شواهد التنزيل، ټوک ۱، مخ ۳۲۵.

۳. سوره ابراهيم:۲۷.

Download from: www.aghalibrary.com

ابن عباس وائي چې له ثابت قول نه مراد د امام علي بن ابي طالب په ولایت ایمان دے.[۱]

ز- ﴿... وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ ﴾؛[۲]

"ابراهیم وویل: اے زما ربه! دا ښار (مکه) د امن ځاے وګرځوه او ما او زما اولاد د بتانو له عبادته لرې وساتې."

له عبدالله بن مسعود څخه داسې نقل شوي دي چې وې ویل:

رسول اللهﷺ وفرمایل: زۀ د خپل پلار ابراهیم غوښته (عطا) یم. مونږ ورته وویل: یا رسول اللهﷺ، تۀ څرنګه د خپل پلار ابراهیم غوښته شوی؟ وې فرمایل: خداے پاک په ابراهیم وحي وکړه چې زۀ تا د خلقو امام ټاکم. ابراهیم خوشحاله شو او وې ویل: خدایه! زما له نسل او اولاد نه به هم امامان ټاکې؟ خداے پاک ورته وحي وکړه چې اے

۱. بحرانی، سیدهاشم، البرهان فی تفسیرالقرآن، ټوک ۲، مخ ۳۱۵.

۲. سوره ابراهیم: ۳۵.

Download from: www.aghalibrary.com

ابراهیمه! زهٔ تا ته داسې عهد او وعده نهٔ درکوم چې وربانديې عمل نهٔ کوم. ابراهیم وویل چې هغه عهد او وعده کومه ده چې تهٔ یې نهٔ کوې؟ خدا ے وفرمایل: زهٔ به ستا د امت ظالمانو ته امامت مقام نهٔ ورکوم. ابراهیم وویل چې خدایه زما د امت ظالمان کسان څوک دي چې امامت ورته نهٔ رسي؟ خدا ے وفرمایل: هغه کسان چې زما په ځا ے د بتانو عبادت وکړي، هغه زما امامت مقام ور نهٔ دي. ابراهیم وویل: ﴿... وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ ﴾. "خدایا ما او زما اولاد د بتانو له عبادته وساتی" د ابراهیم دا دعا زما او زما د ورور علي‌عليه السلام په حق کښې قبوله شوه، ځکه چې مونږ دواړو هیڅ کله بتانو ته سجده نهٔ ده کړې نو د همدې امله خدا ے پاک زهٔ په نبوت مبعوث کړم او علي یې زما وصي وټاکهٔ.[1]

---

۱. شیخ طوسی، الامالی، مخ ۳۸۸.

Download from: www.aghalibrary.com

ح- ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ﴾؛[۱]

"او خپل نژدې خپلوان دې وویروه."

براء بن عازب داسې نقلوي:

کله چې دا ایت ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ﴾ نازل شو، نو رسول اللهﷺ د عبدالمطلب اولاد چې څلوېښت کسان وو راغونډ کړل او عليعليه السلام ته یې حکم ورکړ چې د ګډ یا پسه غوښه پخه کړه. د خدای ګران رسولﷺ د غوښې لوښې راوغوښت او یوه ټیکه یې ترې په غاښونو مبارکو وچیچله او په لوښي کښې یې یوې خوا ته کېښوده او بیا یې هغو کسانو ته وویل چې د خدای په نوم سره وړاندې راشئ! هغوي لس لس کسان رامخکښې شول او چې څومره یې خوړې شوه هوهره یې وخوړله خو په هغه لوښي (چې هغه یو کس هم ختولې شوه) کښې څه کم نۀ شول بیا یې ذ شوملو جام راوغوښت او له هغۀ یې لږې شوملې وڅښلې بیا یې

۱. سوره شعراء: ۲۱۴.

Download from: www.aghalibrary.com

هغوي ته هم وويل چې د خداے نوم سره وخښئ! هغوي ټولو وڅښلې او ټول ماړۀ شول شول خو پکې څه کمے رانغلو. ابولهب مخکښې شو او وې ويل: دې سړي په دې وسيله په تاسو جادو وکړ.

پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله په هغه ورځ خاموشي اختيار کړه او هيڅ وېنا يې ونۀ کړه، سبا يې هغه بيا راوغوښتل او د طعام نه پس پېغمبر هغوي وويرول او وې فرمايل چې اے د عبدالمطلب اولاده! زۀ د خداے لخوا تاسو ته نذير(يروونکے) او بشير (زيرے ورکوونکے) راغلے يم د هغۀ څه په حقله چې تاسو يې کوئ(يعني ستاسو د عمل په حقله) مې د ټولې دنيا او آخرت خبر مې ستاسو لپاره راوړے دے او هغه دا دے چې اسلام قبول کړئ او زما پيروي وکړئ چې هدايت ومومئ. بيا يې وفرمايل: په تاسو کښې څوک له ماسره په دې کار ملګرتيا کوي چې هغه کس زما ورور،خليفه او وصي وګرځي او له ما نه پس زما ځاے ډک کړي او زما پورونه لنډ کړي؟ هغوي ټول غلي شول او پېغمبر اکرم خپله وېنا درې ځلې تکرار کړه او درې واره ځل

Download from: www.aghalibrary.com

تول غلي پاتې شول او یوازې عليعليه السلام وویل: زهٔ یا رسول اللهصلی الله علیه وآله. نو پېغمبر وفرمایل چې بېشکه هم دې (عليعليه السلام) زما ورور زما وصي او خلیفه دے نو بس د دهٔ خبره اورئ او اطاعت یې کوئ. هغوی ټول پاڅیدل په داسې حال کښې چې ابوطالب ته یې په طنز کښې یل: د خپل زوے اطاعت او پیروي شروع کړه چې هغه ستا امیر هم شو.[1]

ط- ﴿هُنَالِكَ ٱلْوَلَـٰيَةُ لِلَّهِ ٱلْحَقِّ﴾؛[2]

"دغه ځاے کښې ولایت یوازې د خداے حق دے."

امام محمد باقرعليه السلام د دې ایت په باره کښې وفرمایل: دا ولایت، د امیرالمؤمنین عليعليه السلام ولایت دے چې خداے پاک هیڅ یو پېغمبر هم بې له دې ولایته نهٔ دے رالیږلے.[3]

---

۱. حاکم حسکانی، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۴۲۰؛ طبرسی، فضل بن حسن، مجمع‌البیان، د تیر ایت په تفسیر کې.
۲. سوره کهف:۴۴.
۳. حاکم حسکانی، شواهدالتنزیل، ټوک ۱، مخ ۳۵۶.

Download from: www.aghalibrary.com

ی- ﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٌۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ﴾؛[۱]

"هسې نه چې[۲] تهٔ له هغو څخه چې په تا وحی کیږي د ځینو(آیتونو ابلاغول، پریږدې (او وې ځنډوې) او سینه دې پرې تنګه شي چې (دمکی کافران) وائي: په هغهٔ خزانه ولې نه ده نازله شوې یا ورسره فرښته ولې نه ده راغلې، بې له دې بله نه ده چې تهٔ ویرونکے یې او خدا ے په هرڅه باندې وکیل ( ساتونکےاو څارونکے) دے."

جابر بن ارقم له خپل ورور زید بن ارقم دا سې نقلوي:

---

۱. سوره هود: ۱۲.

۲. لَعَلّ، دا ټکي زیات د امید او هیله لرلو په معنی راځي خو کله کله لکه په دې ایت کښې " ولعلك باخع نفسك" کښې د اشفاق(د یو بدکار له کیدو ویریدلو) په معنی هم راځی نو دا معنی یې ښه ده.

Download from: www.aghalibrary.com

جبرئیل امین د عرفې په شپه د علی بن ابی‌طالب د ولایت له پیغام سره په رسول الله‌ﷺ نازل شو. پیغمبراکرمﷺ د منافقانو د نهٔ منلو له ویرې سخت په تکلیف کښې ؤ، نو څو کسان یې چې زهٔ هم پکښې وم هغه حضرت د سلا مشورې لپاره وغوښتلو چې د حج په وخت کښې دا کار تر سره کړي، خو مونږ نهٔ پوهېدو چې څهٔ ووایو. رسول الله‌ﷺ اوژړل نو جبرائیل امین ورته وویل: یا محمدﷺ! ایا د خدا ے له حکمه ژړه کوې؟ وې فرمایل: هر ګز نهٔ اے جبرائیله! خو زما پروردګار خبر د ے چې قرېشو له ما سره څهٔ وکړل، هغوي زما رسالت قبول نهٔ کړ نو خدا ے راته له هغوي سره د جهاد حکم راکړ او خدا ے پاک په خپله هم له اسمانه سپایان راولیږل چې زما مرسته یې وکړه؛ نو زهٔ حیران یم چې اوس به د علي‌؈ ولایت څنګه قبول کړي؟ نو جبرئیل د خدا ے پاک لخوا دا یات ورباندې نازل کړ: ﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعۡضَ مَا یُوحَىٰٓ إِلَیۡكَ...﴾.[۱]

---

۱. بحرانی، سیدهاشم، البرهان فی تفسیرالقرآن، د تیر ایت په

Download from: www.aghalibrary.com

ك- ﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمۡ رَٰكِعُونَ﴾؛[۱]

"بېشکه چې ستاسو ولي (سرپرست) خدا ے او د هغهٔ رسول او هغه څوک دي چې ایمان یې راوړے، نمونځ قائموي او د رکوع په حالت کښې زکات ورکوي."

له عمار بن یاسر څخه په دې حقله داسې نقل شوي دي چې وائي:

علي بن ابی‌طالب د نفلي نمونځ د رکوع په حالت کښې ؤ چې یو فقیر راغے او د خدا ے په نامه یې د مرستې غوښتنه وکړه نو هغهٔ په خپله ګوته ګوتمې ته اشاره وکړه او هغه فقیر راوباسله او په مخه لاړ. هغه فقیر رسول الله‌صلی‌الله‌علیه‌وآله ته راغے او خبره یې ورته تېره کړه نو له دې واقعې نه پس په پیغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله باندې دا ایت نازل شو: ﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ

تفسیر کې.

۱. سوره مائده: ۵۵.

Download from: www.aghalibrary.com

ٱللَّهُ...﴾. پیغمبراکرمﷺ دا ایت تلاوت کړ او بیا یې وفرمایل: زهٔ چې د چا مولا یم، دا علي هم د هغهٔ مولا دے. خدایه! څوک چې له دهٔ سره مینه کوي ته له هغهٔ سره مینه وکړې او څوک چې ورسره دښمني کوي تهٔ هغه خپل دښمن وګڼې.[1]

ل- ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴾؛[2]

"اے پیغمبره! هغه څه چې په تا باندې د خپل رب لخوا نازل شوي دي، ورسوه او که ودې نهٔ رسول نو(داسې ده لکه) چې د هغهٔ رسالت دې نهٔ وي رسولے[3] او خدا ے به تا د خلقو له

۱. هیثمی، علی بن ابی‌بکر، مجمع الزوائد، ټوک ۷، مخ ۱۷.
۲. سوره مائده: ۶۷.
۳ . د مائدې سورت د پیغمبرﷺ په آخرنیو ورځو کښې نازل شوے دے هغه مطلب چې د هغهٔ په رسولو باندې په دې آیت

Download from: www.aghalibrary.com

(فتنې او شره) ساتي بېشکه چې خدا ے د کافرانو ټولي ته سمه لار نۀ ښيي."

له ابن عباس او جابر بن عبدالله انصاري څخه د دې ایت په اړه دا سې نقل شوي چې:

خدا ے تعالیٰ پېغمبراکرم ته حکم ورکړ چې علي‌علیه‌السلام خپل ځا ے ناستے (جانشین) او خلیفه وټاکه او خلق د هغۀ له ولایته خبر کړه. رسول‌صلی‌الله‌علیه‌وآله دا اندېښنه لرله چې څوک به دا

کښې ډېر تاکید شو ے د ے بېشکه هغه یو ډېر مهم حکم ؤ، د دې په حقله بزرګانو صحابه ؤ چې د حدیث په کتابونو کښې څه نقل کړي دي هغه د حضرت علي‌علیه‌السلام د ولایت او جانشینۍ اعلان د ے چې د دې آیت له نازلېدو وروسته د پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله د آخرنې حج (حجة الوداع) له ادا کولو وروسته د ذوالحجې په اتلسمه نېټه په یو ځا ے کښې چې غدیر خم ورته ویل کیږي او په هغې ځا ے کښې لارې بېلیږي نو په هغه ځا ے کښې یې په دغه ورځ خلق راټول کړل او علي‌علیه‌السلام یې خپل ځا ے ناستے او جانشین وټاکۀ او وې فرمایل: "مَنْ کُنْتُ مَوْلاهُ فَعَلِیٌ مَوْلاهُ ..." چې د دې تفسیر، د تفسیر او حدیث په کتابونو کښې لوستلې شئ.

Download from: www.aghalibrary.com

ووائي چې د خپل ترۀ زوي يې په ناحقه وټاکۀ او ما به ملامت کړي نو خدا ے هغۀ ته وحي وکړه چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ...﴾ او رسول اکرمﷺ په غدير خم کښې د هغۀ د ولايت او خلافت اعلان وکړ.[۱]

م- ﴿ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا ﴾؛[۲]

"نن مې ستاسو دين بشپړ (کامل) کړ او خپل نعمتونه مې په تاسو تمام کړل او اسلام مې ستاسو لپاره د دين په توګه خوښ کړ."

۱. حاکم حسکاني، شواهدالتنزيل، ټوک ۱، مخ ۱۹۴؛ طبرسي، فضل بن حسن، مجمع‌البيان، فی تفسيرالقرآن، ټوک ۲، مخ ۲۲۳. حاکم حسکاني، په شواهدالتنزيل ټوک ۱، مخ ۱۹۰ کښې وائي: «دا حديث په دعاءالهداة الى اداء حق الموالاة کتاب کښې ډيرپه څيرتيا او ژورتيا سره څيړلے شوے دے.»
۲. سوره مائده: ۳.

Download from: www.aghalibrary.com

له ابوسعيد خدري‌د دې ايت په باره کښې داسې نقل شوي دي وائي چې:

پېغمبراکرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله خلق د حضرت علي‌عليه‌السلام ولايت ته راوبلل خپل لاسونه يې د دعا لپاره اسمان ته اوچت کړ ل او لا يې لاسونه له يو بله جدا نۀ وو کړي چې دا ايت نازل شو: ﴿ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ... ﴾.رسول اکرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله وويل: اللّٰه اکبر چې دين بشپړ او کامل شو او نعمتونه تمام او خدا ے زما په رسالت او د علي‌عليه‌السلام په ولايت خوشحاله شو. بيا يې وفرمايل: زۀ چې د چا مولا يم دا علي‌عليه‌السلام هم د هغۀ مولا د ے.[۱]

ن) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ ﴾؛[۲]

---

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۱، مخ ۱۵۸.
۲. سوره نساء:۵۹.

Download from: www.aghalibrary.com

"اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے اطاعت وکړئ د خدا ے او اطاعت وکړئ د رسول او د خپل اولو الامر."

سلیم بن قیس هلالي له امیر مؤمنین علي عليه السلام څخه داسې نقل کړي چې: پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وفرمایل:

زما شریک هغه کسان دي چې خدا ے تعالیٰ هغه د خپل او زما تر څنګه ذکر کړي دي او د هغو په اړه یې فرمایلي دي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ...﴾ او که د څه شي په حقله له اختلافه ووېرېدئ نو د هغۀ حکم خدا ے تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وآله او اولواالامر ته وسپارئ. له رسول الله صلی الله علیه وآله مې وپوښتل: یا نبی الله صلی الله علیه وآله اولواالامر څوک دي؟ وې فرمایل: تۀ له هغو وړومبنے کس یې.[1]

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۱۴۸.

Download from: www.aghalibrary.com

س- ﴿ وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴾؛[۱]

"او له تا نه پوښتنه کوي چې ایا هغه (خبره) حقه ده ووایه: هو! قسم په خدای، چې بېشکه هغه (خبره) حقه ده او تاسو (له عذاب څخه د خدای) عاجزه کوونکي نه یئ."

امام جعفر صادق‌علیه السلام د دې ایت په باره کښې وفرمایل: خدای تعالیٰ فرمائي: ای محمده! د مکې خلق له تا پوښتنه کوي چې آیا علي بن ابی‌طالب امام دی که نه؟ ووایه: هو! قسم په خدای چې هغه امام دی.[۲]

---

۱. سورۀ یونس، آیت ۵۳.
۲. بحراني، سیدهاشم، البرهان فی تفسیرالقرآن، د تیر ایت په تفسیر کې.

Download from: www.aghalibrary.com

ع- ﴿ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴾؛[1]

"او الله (تاسو) د سلامتیا کور ته بلي او چا ته چې وغواړي صراط مستقيم (نېغه لاره) ښيي."

ابن عباس وائي: ﴿ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ ﴾، یعنی خداے خلق جنت ته رابلي ﴿ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴾، یعنې هغوي به د علي بن ابيطالب ولايت په وسيله هدايتوي.[2]

۱. سوره یونس: ۲۵.

۲. بحراني، سیدهاشم، البرهان فی تفسیرالقرآن، ټوک ۲، مخ ۱۸۳.

Download from: www.aghalibrary.com

Download from: www.aghalibrary.com

## ۱۰- د امام علي عليه السلام د جهاد په حقله ايتونه

الف- ﴿ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلْقِتَالَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا﴾؛[۱]

"خدای (په دې ډګر کښې) مؤمنان له جګړې بې نيازه کړل (او بري يې ور پر برخه کړ) او خدای ډېر غالب او طاقتور دی.

عبدالله بن مسعود د دې ايت تفسير داسې کړی دی: ﴿ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلْقِتَالَ ﴾ -بعلی -﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا﴾.[۲] همدارنګ ابن عباس وايي: خدای تعالیٰ په

---

۱. سوره احزاب: ۲۵.

۲. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخونه ۷ـ ۵.

Download from: www.aghalibrary.com

خندق غزا کښې مومنانو ته، د علي بن ابی‌طالب په لاس له جنګه نجات ورکړ هغه وخت چې عمرو بن عبدودّ يې ووژهٔ.[۱]

د خندق غزا واقعه د ستر صحابي حذيفه‌په نقل سره:

په دې جنګ کښې، عمرو بن عبدود له خندقه راواوړېدهٔ او د پېغمبر د سپايانو مخامخ ودريد او مسلمانان يې جنګ ته راوبلل، رسول اکرم‌ﷺ مسلمانانو ته وفرمايل: تاسو کښې څوک شته چې عمرو بن عبدود سره وجنګيږي؟ هيچا ځواب ورنهٔ کړ يوازې علي بن ابی‌طالب پاڅېد او جنګيدو ته يې چمتوالے اعلان کړ. پېغمبراکرم‌ﷺ هغهٔ ته وفرمايل: کښېنه! او بيا يې وفرمايل: په تاسو کښې څوک شته چې د عمرو مقابلې ته پاڅيږي؟ ټول غلي وو بيا علي‌ﷺ پاڅېد، پېغمبراکرم ورته وويل چې هغه پيژنې هغه عمرو بن عبدود دے علي‌ﷺ وويل هو پيژنم يې خو زهٔ هم علي بن ابی‌طالب يم. رسول اکرم‌ﷺ خپله زغره چې «ذات‌الفضول» نومېده، هغهٔ ته واغوندوله او خپله توره ذوالفقار يې ورته ورکړ

۱. هماغه.

اوخپله عمامه (پټکی) يې ورته ورپه سرکړ او ورته يې وفرمايل: ځه ورشه. کله چې علي‌عليه‌السلام روان شو نو پېغمبراکرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله ورته داسې دعا وکړه: خدايه له دۀ څخه له هرې خوا حفاظت وکړې او محفوظ يې وساتې.

علي ميدان ته ووتۀ او د عمرو مخامخ ودرېد او وې ويل: تۀ څوک يې؟ عمرو وويل: ګومان مې نۀ کوۀ چې ما به څوک نۀ پيژني، زۀ عمرو بن عبدود يم. دا راته ووايه چې تۀ څوک يې؟ علي‌عليه‌السلام وفرمايل: زۀ علي بن ابی‌طالب يم. وې ويل: تۀ هماغه ماشوم يې چې د ابوطالب په لمن کښې مې ليدلے وې؟ وې ويل: هو. عمرو وويل: ستا پلار زما ملګرے ؤ زۀ ستا په وژلو راضي نۀ يم. علي‌عليه‌السلام ورته وويل: خو زۀ ستا په وژلو راضي يم. او اوريدلي مې دي چې يو وخت تا د کعبې پرده نيولې وه او خدا ے سره د داسې ژمنه کړې وه چې څوک له ما درې کارونه وغواړي نو خامخا به په هغو دريو کښې يو منم؟ عمرو وويل: هو رښتيا دي. علي‌عليه‌السلام وويل: ښه زۀ له تا نه درې څيزونه غواړم يو دا چې له کومه ځايه راغلے يې بېرته هلته ستون شه او جنګ مۀ کوه، هغۀ وويل

Download from: www.aghalibrary.com

چې: نه، بيا به راپسې خلق خبرې کوي. علي‌عليه‌السلام وويل: ښه نو بيا مسلمان شه او پېغمبراکرم‌صلى‌الله‌عليه‌وآله ؤمنه وې ويل: نه، دا هم نۀ شم منلې. علي‌عليه‌السلام وويل: ښه داسې وکړه زۀ پياده يم او تۀ په اس سپور يې له اسه راکوز شه عمرو له خپل اسه راکوز شو او وې ويل چې هغه څه مې له دې زلمي وليدل چې له بل چا مې نۀ دي ليدلي بيا يې اس ووهۀ او هغه ځنګته شو او خپله په لوړ دنګ قامت سره د علي‌عليه‌السلام د علي‌عليه‌السلام مخې ته اودرېد، علي‌عليه‌السلام په نرمه خاوره ولاړ ؤ ځاے يې بدل کړ او سختې خاورې ته راغے په دې وخت کښې عمرو په خپلې تورې سره په علي ګوزار وکړ، علي په ډېر مهارت سره د په ډال سره د خپل ځان دفاع وکړه او په خپل ډال سره يې سر لږ زخمي شو خو په دې حال کښې علي‌عليه‌السلام د هغۀ په دواړو پښو ګوزار وکړ او هغه په ځمکه راوغورځېد د جنګ او تورو اوازونه سخت شول ګردې اوچتې شوی ناڅاپه د علي‌عليه‌السلام د تکبير غږ واوريدے شو او پېغمبر وفرمايل: قسم په خداے چې علي‌عليه‌السلام عمرو ووژۀ. نو وړومبنے کس چې د خوشالۍ نعرې يې ووهلې،

Download from: www.aghalibrary.com

عمر بن خطابؤ کله یې چې ولیدل چې علي عليه السلام خپله توره د عمرو په زغرې سره صفا کوي او وې ویل: یا رسول الله صلی الله علیه وآله، عمرو یې ووژهٔ!

علي عليه السلام د عمرو سر جدا کړ، او په داسې حال کښې چې لاسونه یې اوچت کړي وو راستون شو. پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله ورته وفرمایل: یا علي! ځوک چې د جنګ له میدانه په بري سره واپس شي نو خدای پاک داسې ښېرته راتلل ډیر خوښوي. همدا رنګ وې فرمایل: یا علي! زیرے درکوم چې ستا دغه ننني کار که زما (محمد صلی الله علیه وآله) د امت له ټولو اعمالو سره په تله کښې وزن شي، نو ستا کار به درووند وي. دا په دې وجه وو چې د عمرو بن عبدود په وژلو سره ټولو مسلمانانو عزت وموندهٔ.[1]

۱. هماغه.

Download from: www.aghalibrary.com

ب- ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٌ مَّرۡصُوصٌ ﴾؛[۱]

"بې شکه خدای هغه کسان خوښوي، چې د هغهٔ په لار کښې صف تړلي جنګېږي؛ لکه چې هغوي (د قلعې) ټينګ دېوال وي."

له ابن عباس نه پوښتنه وشوه چې: خدای د چا په حقله داسې وفرمايل؟ هغهٔ وويل: د خدای د زمري حمزه، د رسول الله‌صلی الله علیه وآله د زمري علي بن ابي‌طالب او عبيده بن حرث او مقداد بن اسود په حقله.[۲]

۱. سوره صف: ۴.
۲. حاکم حسکانی، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۲۵۱.

Download from: www.aghalibrary.com

ج- ﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴾؛[۱]

"او محمد یوازې یو پېغمبر دے چې له هغهٔ مخکې هم پېغمبران تېر شوي دي نو که هغه مړ شي یا ووژل شي نو آیا تاسو به په اړَولو پښو (کفر ته) بېرته ګرځئ؟. او څوک چې په خپلو اړَولو پښو (کفر ته) بېرته وګرځېد نو هغه خدا ے ته هیڅ زیان نه شي رسولے او خدا ے به شکر ګزارو ته زر اجر ورکړي."

له حذیفه‌څخه د دې ایت په حقله دا سې نقل شوي چې وائي:

کله چې د احد جنګ راپېښ شو نو د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله اکثر اصحاب وتښتېدل، خو علي عليه السلام او ابودجانه‌په خپلو تورو سره د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله د دفاع لپاره د هغهٔ مخې ته اودریدل چې مشرکان له پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله لرې کړي چې ورته څه زیان

۱. سوره آل عمران: ۱۴۴.

Download from: www.aghalibrary.com

ونهٔ رسوي. نو خدا ے پاک دا ایت نازل کړ: ﴿ وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ ٱلْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ ... وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴾؛[1] او تاسو وړاندې له دې چې مرګ(شهادت) ته مخامخ شئ د هغهٔ آرزو (ارمان) به مو کوله نو هغه مو (د اُحد په غزا کښې) ولید او تاسو ورته (تش) کتل... او خدا ے به شکر ګزارو ته زرجزا ورکړي. په دې معنا چې علي‌علیه‌السلام او ابودجانه ته به جزا ورکوي. او دا ایت هم نازل شو: ﴿وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَـٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ...وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾؛[2] او له انبیاؤ څخه ډېر داسې وو چې د هغوي په مرستې ډېر خدا ے پرسته کسان وجنګېدل نو د خدا ے په لاره کښې چې ورته کوم (تکلیفونه) ورسېدل د هغو په سبب نهٔ ستړي شول او نهٔ کمزوري او نهٔ یې (دښمن

---

۱. سوره آل عمران: ۱۴۴ـ ۱۴۳.
۲. سوره آل عمران: ۱۴۶.

Download from: www.aghalibrary.com

ته) سر ټیټ کړ او خدای صبر کوونکي خوښوي. له صابرانو څخه مراد علي عليه السلام او ابودجانه دي.[۱]

د- ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴾؛[۲]

"او دا چې هم هغه خندول کوي او هم ژړول کوي."

له ابن عباس نه نقل شوي دي چې: خدای پاک علي، حمزه او جعفر طیار په بدر کښې د کافرانو په وژلو سره وخندول، او د مکې کافران یې د وژل کېدو له امله په دوزخ کښې وغورځول او هغوی یې وژړول.[۳]

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۱۳۶.
۲. سوره نجم: ۴۳.
۳. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۲۰۷.

Download from: www.aghalibrary.com

Download from: www.aghalibrary.com

## ۱۱- د امام علي علیه السلام د علم په حقله ایتونه

الف- ﴿ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾؛[۱]

"ووایه : چې زمونږ او ستاسو تر مینځ د ګواهۍ لپاره کافي دے خدا ے او هغه څوک چې دکتاب علم ورسره د ے."

ابوسعید خدري وائي: له رسول اکرم صلی الله علیه وآله مې وپوښتل: چې هغه څوک د ے چې د کتاب علم ورسره د ے ؟ وې فرمایل: هغه زما ګران ورور علي بن ابی طالب د ے.[۲]

---

۱. سوره رعد: ۴۳.

۲. بحراني، سیدهاشم، البرهان في تفسیرالقرآن، د تېر ایت په تفسیر کښې.

Download from: www.aghalibrary.com

ب- ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَـٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ﴾ ؛[1]

"بې شکه چې په دې (واقعه) کښې د پوهانو (بصيرت لرونکو) لپاره نښې نښانې دي."

جابر جعفي له امام محمدباقر عليه السلام څخه دا سې نقلوي چې:

هغه وخت چې اميرالمؤمنين علي عليه السلام دکوفې په جومات کښې ؤ يوه ښځه راغله او د خپل ميړۀ شکايت يې وکړ خو امام د هغې د خاوند په حق کښې فېصله وکړه نو ښځه په قهر شوه او وې ويل: قسم په خدا ے ناحقه فېصله دې وکړه او انصاف دې ونۀ کړ دا فېصله زياتے دے. د خدا ے په عدالت کښې به ترې ځواب غواړم. امام علي عليه السلام لږ صبر وکړ او بيا يې وفرمايل: دروغ دې وويل: اې بد اخلاقې ښځې! هغې زر منډه کړه او وتښتېده. عمرو بن حريث زرځان هغې ښځې ته ورسوۀ او ورته يې وويل چې علي عليه السلام سره چې دې خبرې وکړې نو څه ځواب يې درکړ او تۀ ولې راوتښتيدې؟ هغې وويل چې قسم په خدا ے چې علي عليه السلام

۱. سوره حجر: ۷۵.

Download from: www.aghalibrary.com

زهٔ له داسې حقیقته خبره کړم چې ما د وادهٔ له ابتداء نه تر اوسه پورې له خپل خاونده هغه حقیقت پټ کړے ؤ.

عمرو امیرالمؤمنین علي عليه السلام ته راستون شو او څه چې یې اوریدلي وو بیان یې کړل او وې ویل: یا امیرالمؤمنین، زه نهٔ وم خبر چې ته جادوګر هم یې؟. امام وفرمایل چې: افسوس دې وي په تاباندې! دا جادوګري نهٔ ده بلکه خدائے پاک په قران کښې فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ﴾. رسول الله صلى الله عليه وآله پخپله هم، متوسّم ؤ او زهٔ او زما نه پس ټول امامان هم دور اندېش او بصیر دي نو کله مې چې د هغې ښځې روح ته وکتل نو حقیقت را ته ښکاره شو.[1]

۱. فرات کوفي، تفسیر فرات الکوفي، مخ ۸۱.

Download from: www.aghalibrary.com

ج- ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۚ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴾؛[1]

"او له تا نه مخکې مو هم یوازې داسې سړي (پیغمبران) لیږلي وو چې هغوي ته به مو وحي کوله. (اې خلقو!)که تاسو نه پوهیږئ نو د ذکر له خاوندانو پوښتنه وکړئ."

حرث په دې حقله وائي: له علي‌علیه السلام نه مې د دې ایت په باره کښې پوښتنه وکړه؛ وې فرمایل: قسم په خدا ے چې مونږ (اهلبیت‌علیهم السلام) اهل ذکر یو، مونږ د علم خاوندان یو، مونږ د علم او تفسیر خزانې یو، ما پخپله د خدا ے له ګران رسول‌صلی الله علیه وآله نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: زهٔ د علم ښار یم او علي د هغهٔ دروازه ده او څوک چې علم تر لاسه کول غواړي باید د دروازې له لارې داخل شي.[2]

---

۱. سوره نحل: ۴۳.

۲. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۱، مخ ۳۳۴.

Download from: www.aghalibrary.com

د- ﴿ وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ﴾؛[۱]

"او اورېدونکي غوږونه يې واوري او پرې وپوهيږي."

له علی بن حوشب په دې اړه داسې نقل شوي چې:

له مکحول مې واورېدل چې وېل يې: رسول الله یوه ورځ دا ایت ﴿ وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ﴾ تلاوت وکړ او بیا يې وفرمایل: یا علي! له خدا ے مې غوښتي چې دغه اورېدونکي غوږونه، د ستا وي، علي‌علیه‌السلام وفرمایل: له دې وروسته مې چې کوم حدیث او خبره له پېغمبر اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله څخه اورېدلې ده نو هغه مې نۀ ده هېره شوې.[۲]

همدا رنګ له برید اسلمي داسې نقل شوي چې وائي: وامې ورېدل چې رسول اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله، حضرت علي‌علیه‌السلام ته فرمایل: یا علي! خدا ے پاک راته حکم کړے دے چې زۀ تا له ځان سره نږدې کړم او لرې دې نۀ کړم؛ او چې زۀ درته څه وښایم او

۱. سوره حاقه: ۱۲.

۲. بلاذري، احمد بن یحییٰ، انساب‌الاشراف، ټوک ۲، مخ ۱۲۱.

Download from: www.aghalibrary.com

هغه زده کړې خدای دا ټاکلې ده چې تهٔ زده کوونکے او د هغهٔ ساتوونکے شې. له دې وروسته دا ايت نازل شو ﴿ وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ﴾.[1]

۱. طبري، محمدبنجرير، جامعالبيان فى تأويل آىالقرآنتفسير الطبرى، ټوک ۲۹، مخ ۵۶.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۱۲- په قيامت کښې د امام علي عليه السلام د مقام په حقله ايتونه

الف- ﴿ وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡ ﴾؛[1]

"او په اعراف[2] باندې يو شمېر سړي دي چې ټول (جنتيان او دوزخيان) به له مخونو پېژني."

ابن حجر له ثعالبي نقلوي چې هغهٔ د دې ايت په تفسير کښې له ابن عباسه نقل کړي دي چې ((اعراف)) د صراط له

---

۱. سوره اعراف: ۴۶.

۲. ځينو مفسرانو ويلي دي چې((اعراف)) هغه ديوال دے چې د جنتيانو او دوزخيانو تر مينځ دے او ځينو ويلي دي چې ((اعراف)) د هغې ديوال له ټولو لوړ ځاے دے د روايتونو له مخې د جنتيانو او دوزخيانو په مينځ کښې يوه طبقه داسې ده چې اعراف ورته ويل کيږي دغه کسان لا د جنت او دوزخ مستحق نهٔ وي.

Download from: www.aghalibrary.com

ټولو لوړ ځای دی چې عباس، حمزه، علی بن ابي طالب او جعفر طیار به ورباندې پاس ناست وي او دوستان او خپل مینه وال به د مخونو له نورانیت څخه پیژني او دښمنان به د مخونو له توروالي پیژني.[1]

ب- ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ﴾؛[2]

"د هغو کسانو لپاره چې ایمان یې راوړۀ او ښه کارونه یې وکړل، طوبیٰ (ونه) په برخه ده او ورلره ښۀ انجام دی."

له امام موسیٰ کاظم‌علیه‌السلام نه د دې ایت په باره کښې داسې راغلي دي چې:

له رسول اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله مې وپوښتل چې: طوبیٰ څه دي؟ وې فرمایل: داسې ؤنه ده چې د هغې تنه او جرړه زما په کور کښې ده او ښاخونه او څانګې یې د بهشتیانو په سرونو

۱. ابن حجر، الصواعق المحرقة، مخ ۱۰۱.
۲. سوره رعد: ۲۹.

Download from: www.aghalibrary.com

دي. دويم ځل مو بيا له پېغمبراکرمﷺ پوښتنه وکړه؛ هغه حضرت وفرمايل: دا ونه د عليؑ په کور کښې ده، وويل شول دا څنګه؟ (يعني مخکې مو وويل چې زما په کور کښې ده) وې فرمايل: زما او د عليؑ بهشتي کور په يو ځاے کښې دے.

ج- ﴿ وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٍ مُّسۡفِرَةٌ ۝٣٨ ضَاحِكَةٌ مُّسۡتَبۡشِرَةٌ ﴾؛[1]

"ځينې مخونه به په دغه ورځ روښانه او نوراني، خانديدوونکي او خوشحاله وي."

له انس بن مالک څخه د دې ايت په اړه داسې نقل شوي چې وائي: له رسول اللهﷺ مې پوښتنه وکړه: ﴿ وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٍ مُّسۡفِرَةٌ ﴾ څوک دي؟ وې فرمايل: اے انسه: مراد يې زمونږ يعني د عبدالمطلب د اولاد يعني زما، علي، حمزه،جعفر، حسن او حسين او فاطمهؑ ښځې (مخونه) دي کله چې د قيامت په ورځ له خپلو قبر بهر راووځو نو زمونږ د مخونو

۱. سوره عبس: ۳۸- ۳۹.

نور به د نيمې ورځې نمر په شان ځليږي لکه چې خدای پاک فرمايلي دي چې: ﴿ وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٖ مُّسۡفِرَةٞ ﴾؛ يعنې زمونږ نورانيت به د قيامت زمکه روښانوي. او له دې ايته ﴿ضَاحِكَةٞ مُّسۡتَبۡشِرَةٞ ﴾، مراد هم مونږ يو؛ يعنی کوم ثواب وعده چې خدای راسره کړې ده په هغه خوشاله يوو.[۱]

د- ﴿ أَفَمَن يُلۡقَىٰ فِي ٱلنَّارِ خَيۡرٌ أَم مَّن يَأۡتِيٓ ءَامِنٗا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ﴾؛[۲]

"آيا څوک چې په اور کښې غورځول کيږي، غوره دے که هغه چې د قيامت پر ورځ محشر ته په امن امان سره راځي؟"

له ابن عباس څخه داسې نقل شوي دي چې وائي: څوک چې په اور کښې غورځول کيږي، هغه وليد بن مغيره دے، او

۱. حاکم حسکانی، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۳۲۴.
۲. سوره فصلت: ۴۰.

Download from: www.aghalibrary.com

ځوک چې ډاډمن او په امن او امان سره محشر ته راځي هغه علي بن ابي‌طالب دے.[۱]

ه - ﴿ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٖ وَعُيُونٖ ﴾؛[۲]

"بې له شکه (په هغه ورځ) پرهيزګاران (د جنتي ونو) تر سيورو لاندې او د چينو (په غاړه کښې) دي."

ابن عباس په دې اړه وائي: پرهيزګاران هغه کسان دي چې هغوي له شرک او ګناهان کبيره او صغيره پرهيز وکړ او ځانونه يې له هر ډول ګناهونو وساتل. هغوي دا کسان دي علي، حسن او حسين‌علیهم‌السلام چې د شنو ونو تر سيورې لاندې به وي او د چينو په غاړه به استوګنه کوي.[۳]

۱. حاکم حسکانی، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۱۲۹.
۲. سوره مرسلات: ۴۱.
۳. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۳۶۷.

Download from: www.aghalibrary.com

و- ﴿فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ۝ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴾؛[۱]

"نو (په دغه ورځ) چې د چا (د ښو عملونو) تله درنه وي، هغه به په يو ښه راضي ژوند کښې وي."

په دې اړه ابن عباس وائي: په قيامت کښې وړومبنے کس چې د حساب کتاب په تله کښې د ښو اعمالو او نېکيو تله به يې درنه وي هغه علي بن ابي‌طالب دے. ځکه چې د هغهٔ په تله کښې به بې د حسناتو(نيکيانو) بل څه نهٔ وي او د ګناهونو څنګ به خالي او تش وي ؛ ځکه چې هغهٔ يوه شيبه هم د خدا ے تعالی نافرماني نهٔ ده کړې...[۲]

ز- ﴿وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ﴾؛[۳]

"او هر څوک به (په داسې حال کښې محشر ته) راځي چې ورسره به حرکت ورکوونکے او ګواهي ورکوونکے وي."

---

۱. سوره قارعه: ۶ - ۷.
۲. حاکم حسکاني، شواهد التنزيل، ټوک ۲، مخ ۳۶۷.
۳. سوره ق: ۲۱.

Download from: www.aghalibrary.com

له بي بي ام سلمې نه نقل شوي دي چې وائي: په هغه ورځ به، رسول اکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله حرکت ورکوونکے وي او امیرمؤمنین علي‌علیه‌السلام به پرې ګواهي ورکوونکے وي.[۱]

﴿والحمدُ للهِ رَبّ اللعالَمِینْ﴾

۱. حاکم حسکاني، شواهد التنزیل، ټوک ۲، مخ ۱۸۸.

Download from: www.aghalibrary.com